حال که چار سال میگذرد که ملت رنجورو و ناتوان ما در خون دست و پا میزند مردم ما بجرم اسلام زندانی شدند، تعذیبها و شکنجه ها دیدند و در مسلخهای کمیونیزم خون شان ریخته شد و به میلیونها مردم از خانه و مسکن آبایی شان به ترک دیار مجبور شدند و با شکا ههای شان توسط توپها و طیاره های دشمن با خاک یکسان

ببننه و غواړه.

رسول اکرم(ص) له واره حضرت علی او سلمان(رض) په ثعلبه پسی ولیږل، په لارکی یې له یوه - شپانه نه د ثعلبه پوښتنه وکړه ، شپانه وویل : دلته د شپی یو سړی راځی او تردی وني لاندی ژاړی ، حضرت علی او سلمان(رض) ورته ترشپی همالته ایسار شول ، ثعلبه راغی ، ترهماغی وني لاندی یې د بیاز لاسونه د بې نیازه پروردګار په دربارکی او چت کړل ، او عرض یې وکړ :

خدایه ! نوروبې برخی کړم ، که ته می هم و وشړی ، چاته مخ وروااړوم، او له چانه چاره وغوارم، د اوخت د حضرت علی(رض) سترګی ډ له شوی ، وروړاندی شو ، ویلی :

ثعلبه ! زیری می در باندی ، ته خدای وبښلی مونږ رسول الله په تاپسی را لیږلی یوپر عظیم الشان پیغمبري دتوبې هغه نازل شوی ایت وروااوراوه.

ثعلبه پاڅید او له علی(رض) سره مدینی ته روان شو ، له واره نبوي جومات ته ورننوت ، پیغمبر(ص) د ما سختن پرلمانځه ولاړو ، علی ، سلمان او ثعلبه هم ورپسی اقتداء وکړه ، د فاتحی ترلوستو و روسته رسول الله(ص) «تکاثر» سورة پیل کړ ، چی څنګه یې لوسړی ایت. «الهکم التکاثر» (تاسی ډیروښتو او بچو د خدای له یاده سخت غافل کړی یاستی ، ولوست ثعلبه چیغه کړه : او چی دویم ایت وحتی زرتم المقابر، (چی ګورسوولید او قبرونوته لاړی) یې ولوست ، بیاني چیغه کړه ، او چی دریم ایت «کلاسوف تعلمون» (پوه به شي چی تر مرګ و روسته مو په برزخ کی څومره سختی په مخکی دی) یې واورید ، د ثعلبه له خولی ناڅاپه یو در دوونکی کریکه ووته او پرځمکه را نسکور شو ، ترلمانځه و روسته رسول الله امروکړ او به یې راوړی ، او پړی وی شیندلی ، خوپه سد نشو ، و چه دره پرځمکه پروت و ، چی پنه ورته ځیر شول ، پوه شول چی ثعلبه ځان حق ته سپارلی دی. (۱)

دایمان نقش...

جاهلیت تسلط نه زغورلی دی .

په دی اساس مؤمن انسان د رسالتونو او پیغمبرانو په عملی داستانو کښی د خپل ژوند ، مبارزی او مقاومت مشعل پیدا کوی او په دی برخه کښی هغه په پوره داډ او اطمینان قدم اخلی .

هغه که هرڅومره د خپل تیاره محیط جاهلانه تسلط او په هغه کښی د دبدبی او زور ښودلو ویره وونکی سیما له خوا جاهلانه ګواښونه او احمقانه چلنجونه هم واوری او وینی خو هغه د یوه هم پروانه ساتی او د هغوی په سست او وراسته عاقبت پوره باور او ایمان لری .

هغه پوهیږی چه د ده د وخت فرعون او فرعونیانو ، نمرود او نمرودیانو ، ابو جهل او ابو جهلانو د تیرو درسو او سر په کاسه لویدلو فرعونیانو ، نمرودیانو او ابوجهلانونه زورور او قوی نه دی بلکه باور لری چه عاقبت هر فرعون د خپل وخت د مؤمن موسی په وړاندی را پرځی او د تاریخ د ذلت کندی ته لویږی هوداد امید مقاومت داسی مؤمن انسان د رسالت د عهده دارو رجالو (اشخاصو) له ایمان ښونکو مواقفو او داستانو نو څخه زده کوی نو په تطبیقی ساحه کښی هغه عملی کوی هم .

ایمان پر رسالت مؤمن انسان ته الهام ورکوی چه د هغه د سعادت او نیکمرغی په خاطر را لیږل شوی پیغمبران د دی معنی لری چی انسان دومره عزت او کرامت چه د آسمانونو خالق خدای هغه

له نظره نه غورځوی او په دی توګه په څمکه کښی لویدلی انسان بیرته د آسمانونو او پورتنی عالم سره پیوند پیدا کوی او د همدی پیوند په لړکښی د مؤمن انسان انګیرنه ، عقل ، فکر ، عاطفه او ټول استعدادونه اعتلائی وده اورشد کوی .

د تاریخ په اوږدو کی...

حجاج : وایم وی وژنی . . . دا ستر د انسان وژنی ! ! !

سعید : انی وجهت وجهی للذی فطر السموات والأرض حنیفاً وما أنا من المشرکین »
(الانعام ۷۹)

ترجمه : ما خپل مخ د هغه ذات په لورو کرزاؤ چی اسمانونه او مځکه ېی پیدا کړیده ، د حق پلوی یم او د مشرکانو څخه نه یم.

حجاج: مخ ېی د قبلی څخه وګر زوی .

سعید : «فاینما تولوا فثم وجه الله» (البقرة ۱۱۵)

ترجمه : هر لور ته چه مخ واړوی همغه لوری کښی خدای شته .

حجاج: پر مخ ېی وغور ځوی !

سعید : «منها خلقنا کم وفیها نعید کم ومنها نخرجکم تارة اخری» (طه ۵۵)

ترجمه : د مځکی څخه موږ! پیدا کړی او بیا سو هلته ورستنوم ، او بیرته سویو څل بیا ورڅخه را باسم.

حجاج: سری ور پری کړی . . . د ده زښت ډیر آیتونه زده دی . . .

سعید : أشهد أن لا اله الاالله وحده لا شریک له، واشهد ان محمداً عبده ورسوله . . . حجاجه ، پلدی پوه شه د قیامت په ورځ هرو مرو سره مخامخ کیږو. زما څخه هم در واخله ! او داسی دعاء ېی وکړه : «ای خدایه زما څخه وروسته دحجاج لاس پرچا مه برکوه دا دعای وکړه او د ظالم حجاج د جلادانو له خوا شهید شو - رحمه الله رحمة واسعة

ترجمه : شاهدی وایم چه ېی له خدایه بل معبود نشته خدای یو دی شریک نلری . او محمد ېی بنده او پیغمبر دی.

حجاج د دی پیښی څخه وروسته یوازی «۱۵» شپی ژوندی ؤ او په پای کښی د روحی ناروغی له مخی مړ شو. . .



- شهید ورور غلام حیدر د محمد جان زوی د ننګرهار ولایت د خوګیانیو د ولسوالی د توتو د کلی او سیدونکی د خدای د لاری یوتکړه او فدا کار مجاهدؤ د اسلام د دښمنانو په وراندی ېی په ډیرو جګړو کی فعاله ونډه درلوده بالا خره په ۱۳۶۰-۱-۲۳ لیته د ملحد دولت یوه لویه قوه د خوګیانیو سیمی ته راغله او د جنګ په ترڅ کی نوموړی مجاهد هم په شهادت و رسید (انا لله وانا الیه راجعون).

محمد معروف «فروغگر»

جوان بی تفاوت

روز های زمستانی بود و سرمای شدید . روی اسمان نیلو فری آهسته ، آهسته چادر ابر سفید به رخ میکشید آفتاب کمنور در لاهای ضخیم ابر فرو میرفت ، باد ، تندمیوزید : (ومن) عجله داشتم که موتر بیاید ، در ایستگاه عمومی موتر و دیگر عراده‌ها ایستاد بودم، باران وقفه وقفه میبارید، شدت‌گرفت و از هر سوناوه د انهای منازل جاری شدند: بین دو مشکل فکر میکردم (نداشتن خانه و غربت و بارش شدید) در این هنگام روش جوانی توجهم را بخود جلب کرد که از سوی مزرعه و دهکده یی بسوی سرک عمومی میامد ، بسیار جدی معلوم میشدو تصور میکردم که حتماً چیزی برسرش آمده است توجهم دوچندان شد ، خواستم باستقبالش بشتابم ، چون از جایم حرکت‌کردم او خود مسیرش راتغییر داد وبسوی من دویدن گرفت توقف کردم ، بمن خوبتر نزدیک شد ، سلام گفت ، پیوسته جواب سلامش گفتم ، پهلویم ایستاد ، او بمن نگران بود و بمن باو ، هردوی مایکی دیگر خودرا میشناختیم اماگذشت زمان و بعد پرماجرای مدتها درقسمت شناخت ما ایجاد فاصله کرده بود ابرهای غلیظ ومتراکم حوادث چهره های مارایک اندازه متغیر نشان میداد ، پس از اندکی تأمل ازوی پرسیدم: شما «فلان» نیستید ؟! گفت : بلی! مقابلتاً آنها ازمن پرسیدند : شمامگر «فلان» نیستید ! گفتم : بلی هستم ! سپس یکی دیگر مانرا در آغوش کشیدیم ، معانقهٔ بسیار گرم و پر حرارت وصمیمانه صورت گرفت ، هردوی مارا باران خیلی خیس وتروپر کرده بود و از سرتا پای ماآب میبارید ، از گذشته های یکدیگر پرسیدیم ، قصه هاکردیم ، خوش شدیم و حسرت خوردیم (!) صحبت جریان داشت‌که پهلوی ما موتری ایستادشد ، سوار موتر شدیم ، هنگامیکه از موتر پیاده شدیم ، قرار گذاشتیم و وعده کردیم که (روزسه شنبه همین جمعه باهم صحبت مفصل خواهیم کرد) آدرس خانه شان را یادداشت کردم چون مهاجرت بود وقبل از این پیشآمدخانهٔ شان را ندیده بودم روز موعود فرارسید , از خانهٔ برادری خارج و بد نبال دوست قدیمی ام شتافتم ، بوعده گاه نزدیک شده رفتم ، دیدم در جای معینه ییکه قراربود در آنجا ملاقات کنیم ، سپس خانه رویم ، دوستم را درحالی دیدم که منتظر من بود ، باهم ملاقی شدیم وپس از احوال پرسی به خانهٔ شان رفتیم : به رسم پذیرایی بسالونی دعوتم کرد ، داخل شدم وبر کوچی تکیه زدم ! راستی هم ، سالونی بود که از لحاظ فرش و. . . کمبودی نداشت و کاملاً نمایندگی از پولداری و ثروتمندی دوستم میکرد، او مرا تنها گذاشت و برای آوردن چای از اطاق برون شد .

من از کوه پایه ها آمده بودم ، از کوه پایه های سربفلک کشیده افغانستان عزیز ، از کوه پایه هاییکه رزمندگان تربیت یافتهٔ مکتب قرآن بااستفاده ازکمینهای آن «بزرگترین شیطان نظامی جهان» را بزانو در آوردند وبار اول بعد از جنگ دوم جهانی

بشکست مفتضحانه رو بروی شان ساختند ، معمولاً باکر وفر و برق و زرق زندگی چندان آشنایی نداشتم مقایسهٔ زندگی مردم افغانستان و خانه و کاشانهٔ شان با این خانه مرا باچنان اندیشهٔ سرسام آوری فرو برده بود که اصلا نمیتوانستم درباره چیزی دیگر فکر کنم در این گیرودار فکری و فشار طاقتفرسایکه از این ناحیه عاید حالم شده بود ، حتی به ورود دوستم و ترنگ و ترونگ چاینک و پیاله و پتنوس نفهمیدم. دوستم به رسم قدیم صدای ظرافتآمیزی نموده گفت. تو مانند سابق بالای موضوعات خورد وریزه فکر میکنی بعوض اینکه قوای فکری تو در موضوعات مفید مثمر بکار افتدو مصرف گردد ، خود را ناحق و بیجا آزار میدهی ! آخر ترا چه شده است ! نمیبینی که روز تا روز ضعیف میشوی ! موهایت همه ریخت !!! ریشت سفید شد !

به همصنفانت ببین ! بهمسالانت نگاه کن ! که در چه نشاط جوانی بسر میبرند و چه سان از شادابی جوانی برخوردارند وتو ز امروز پیر شدی رویت چین و چرک شده ، شانه هایت برآمده و از گونه هایت خاک میریزد ! تو ممکن مساله از دواج (این امرحیاتی) را نیز در نظر نداشته باشی! میخواهی عقیم بمانی و بعد از مرگ خلفی نداشته باشی که دعای خیرت کند ؟ !!

سخنان تلخ اوراشنیدم و ز لذتش چشیدم ، مجبور شدم . چیزی بگویم که اوراقانع ساخته توانم ، زانو زدم و گفتم . برادر عزیز ! فقط چهار سال قبل تورا دیده بودم و از تمام «کان و کیف» زندگی تو خبر داشتم ، بامن ارتباط ایدیو لوژیکی سیاسی داشتی مردی بودی مصمم و انعطافنا پذیر ، جوانی بودی پرشور و مبارز ، سیاست مداری بودی که سرخط پروگرام های انقلابی تورا «اسلام» مزین کرده بود ، داد از اعمار جامعهٔ اسلامی میزدی و فریاد سرمیدادی که «اسلام باید حکومت کند» در دورهٔ لیسه ، فاکولته وظیفه و ترک وظیفه از طرز تفکر و جهان بینی بخصوصت سرسختانه ـ دفاع میکردی و میگفتی : تسلیم معنی مرگ را دارد ، آنگاه که مسلمان به کمونیزم تسلیم شد ، دیگر زنده نیست» باکمال طمطراق مدعی بودی که«-اگر در افغانستان احدی از مردم باقی نماند تا از اسلام دفاع کند و خواهان تاسیس حکومت اسلامی باشد ، من خواهم بود که تنهای تنها با کفر و کمونیزم و الحاد مبارزه خواهم کرد و تاپای جان در این راه خواهم رزمید ! چه شد آنهمه ادعا های تو ! تو دیروز پهلوی سرک «پچکی» کمپهای برادران آواره ات را ندیدی که دران شدت سرما و باران به چه حالت نکبتبار زندگی میکردند ! از این غافل بودی که دران خیمه ها علیه برادران خواهران مادران ما چه میگذرد ؟

از همه جالبتر اینکه : جوانی راندیدی که سالم راه میرفت ویکپایش را درنبرد حق و باطل از دست نداده بود . وضع فعلی میهنت افغانستان عزیز راچطور بررسی میکنی ؟ اگر به جبهات سری نمی زنی ، اقلا از مجاهد ینیکه این جا میایند خواهی پرسید که بر سر مردم افغانستان و مجاهدین جان برکف چه میگزرد ؟ دهاتیکه بمبارد میشوند چه خساراتی درآنها بار میآید . و نتیجهٔ حملهٔ قوای دشمن بریک منطقه چیست ؟ آخر این همه بیخبریها برای چیست ؟!

بیاد داری روزها پیرا که همیشه برایت توصیه میکردم که : مطالعه زیاد و غذای ناکافی سبب این همه تکلیف های عصبی در وجود تو بوده ، اگر میخواهی از صحت بهره مند باشی غذایت را باکیفیت مطالعه و تحقیق و تدقیق درکتب هماهنگ ساز !

من این سخنها را به این منظور برایت میگفتم که بسیار لاغر و نحیف بودی ، دلم برتو میسوخت و بر حالت حسرت میخوردم امابر خلاف

آنچه که توقع میرفت امروز که ملت ما با خاک و خون و آتش بازی میکنند و تقریباً تمام هستی شان را در راه دفاع از حریم اسلام عزیز از دست داده اند ، تو بحدی چاق و فربه شدئی که توقع آن را نباید از جوانی چون تو کرد ! من تورا خوب میشناسم و سویه اقتصادی تویمن خوبتر معلوم است این همه آسایش مادی زندگی توکه تورا طوری جلوه میدهد ، از کجاشد ! و از کدام مدرک باین حال رسیدی ! من اصلاً درباره تو چنین نمیاندیشیدم که تو در تنعمی زیست کنی که ملت از خون خاسته ات را فراموش و خود غرق عیش و نوش در دیار بسر بری .

جوان در حالیکه سراپاگوش بود و محور تمرکز فکرش را سخنانم ساخته بود ، تکانی خورد و گفت : من اصلاً با این تنظیمها و قیادتهای بی شماریکه در هرکوچه و بازار عرض وجود کرده و دفتر باز نموده اند ، سازشی ندارم ! زیرا آنها نمیخواهند افغانستان آزاد شود و در آنجا حکومت اسلامی تشکیل و آغاز بکار کند : زیرا اگر آنها میخوا ستند این کار شود کثرت تنظیم ها از برای چیست ! ومن کثرت تنظیمها را بمثابه اصالت نفاق بین رهبری مجاهدین افغانستان تلقی میکنم.

همهٔ سخنانش راشنیدم و پاسخم را چنین آغاز کردم : برادر خیلیها گرامی ! انتقاد شما در این جاوارد نیست بلکه مطلب از این تکثیر (اجتها) است ، اجتهادیکه جریان آن بحق منتج میشود نه به گمراهی و نفاق خانمانسوز و اگر سخن شما راست باشد ، در شرایط فعلی این سوأل (تنظیمها) مطرح نیست بلکه اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان درچار چوبه کاملا اصولی مطرح است (!) پس چرا آرما نهایت راکه سالها دردل میپروراندی در این اتحاد پیاده نمیکنی ! جای سوأل است یا چیزی دیگری میخواهی؟؟!

دوست قدیمی ام کاملاً خودرا باخته بود و در عرق ندامت خیس معلوم میشد ، لق لق بطرفم نگاه میکرد آثار شکست در سیمایش خوانده میشد ، از کرده هایش پشیمان بنظر میر سید ، در این اثنا بمن خوبتر نزدیک شد دستش رابرزانویم گذاشت و گفت «نفقهٔ عیال فرض است» ومن جهت ادای این فریضه ، چون در افغانستان ساحه زند گی برمن تنگ شده بود و کمونستها گرفتارم میکردند ، همه چیز را ترک گفته و باینجا آمدم ، بشما معلوم است که من «انجینر» هستم و رشتهٔ اختصاصی ام تقاضا میکرد که دریکی از موسسه های تخنیکی تنظیمهای جهاد ، ایفای وظیفه نمایم اما این جا قانون تنظیمها چنان بود که در مقابل کار زیاد مزدکم برایم بدهند و این مزد از عهدهٔ اعاشه و اباتهٔ فامیلم برآمده نمیتوانست از روی مجبوریت در مؤسسه ایکه (. . . ها) در آن کار میکردند ، استخدام شده شروع بکار کردم ، در اندک زمانی علاوه از اعاشهٔ فامیلم ، صاحب موتری شدم که در داخل افغانستان به کراکشی مالهای قا چاق مصروف بوده و از راه . . . به پاکستان باربری میکند !!! این تویو تارا که روی دروازه حویلی ما میبینی نیز به پول شخصیم خریداری شده است و در این خانه که اکنون بود وباش دارم درمقابل شصت هزار روپیه نزدم گرو است ! ! آیا اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان میتواند این همه حوایج زنده گیم را رفع سازد . تو خود قضاوت کن که من در انتخاب راهم چه اشتباهی را مرتکب شده ام.

دیگر سلسله پرگو ییهای دوستم را قطع نموده

گفتم : دوست ارجمند ! اگر هدف از زندهگی مسلمان فقط جمع کردن پول است ، از خدا (ج) دور است اوگرچه زنده است از جمله اصحاب القبور است، جادهٔ شریعت را ترک گفته وبه ضلالت و گمراهی سر شده است . در غیر آن مسلمان راکجا شاید که در مقابل ثروت اسلام را فراموش کند ، ملت بخون خفته و از خون خاسته اش فراموش کند ، رسالت اسلامیش را پشت پازندو بالاخره بی‌تفاوتی ازوی ساخته شودکه چون مادیون همه چیز را در پول خلاصه کند ، فرق نمیکند اگر به قیمت بربادی شرف و آبرویش نیز تمام شود !

از شهدای غنوده بخون برایش حکایت کردم و از ستبداد استعمار سرخ در افغانستان از دربه دری مردم افغانستان برایش صحبت کردم و از حال زار بینوایان و فقراء . از آواره‌گان خارج از کشور برایش قصه کردم و از ویرانگریهای «خانه سوزان و ویرانه سازان قرن بیستم» از بیوه زنان ، یتیمان ، اسیران و معیوبان برایش داستانها گفتم و از اختناق مرگبار و دهشت افزای رژیم حاکم و افزودم که بی تفاوت ماندن در برابر این همه بیدادگریها ظلم است ، فسق است و کفر . میترسم از آنکه بدامان کثیف مادیت سقوط نکرده باشی . تورا چه کسی باین حال نکبت بار آورد که تیمیزراه را از چاه کرده نمیتوانی و حق را از باطل ؟ ! چه بلای بزرگی برسرت آمد تو از هرحیث فلج هستی ! نامی از جهاد ومبارزه نمیگیری ودمی از فداکاری و قربانی نمی زنی تو هستی‌وياد د اشتهای پولی وياوه سراییهای مجنون‌ثروت جنون ثروت بسرت زده و اسیرهوای نفس شدبی تو در خواهشات نفسانی چنان منهمک هستی‌که همه چیزت را باخته ای وبه بیچاره بی میمانی که برسرچهار راهی قراردارد و بدون اشاره های ترافیکی مورد حملات عراده‌ها قرار گرفته ، گوشت و خون و مغز و پوستش طوری کوفته شده است که تفکیک و شناخت هر جزوبدنش محال مینماید . از تو باید چه ساخت ؟ بطور کلی تغییر شخصیت نموده ای و«کسی» نیستی که چهار یا پنج سال پیش بودی !

باشنیدن سخنان حق ، دوستم غرزنان فریاد کشید : بس است ! بس است دیگر حوصله تحمل این نصیحت های پدرانهٔ شما . . . صاحب را ندارم و از یاوه سراییهای تو و امثال تو بی‌تفاوت هستم خیلی پرگفتی ، برایت حوصله کردم ، اگر جز شما کسی دیگری میبود آنگاه میدانستم که باوی چه معامله کنم ! راه من صحیح است ، نه راه تو و امثال تو ، دیگر باید حد خود را بشناسی ! من از موقفم دفاع میکنم . روزی خواهد رسید که بامن هم نظر شوی آنگاه خواهی دانست که بغلط رفته بودی وراه من صواب بود . من که دیگر از سخنان بیانتهی آقا خیلی خسته شده بودم از جابر خاستم و برایش گفتم : راه من اگر صحیح است یا غلط بتوچی . چون تو قضاوت نداری ! فاقد ضمیر هستی ! وجدان نداری ! واگرا حیاناً قضاوت داشته باشی عدم وجدان و فقدان ضمیر سالم تورا به انزوا از مسایل اهم انسانی اسلامی و امیدارد و بد ینترتیب احساس مسؤولیت نمیکنی و در مکتب ما ، کسیکه بیتفاوت است و در برابر تعهداتش احساس مسؤولیت نمیکند جای پایی ندارد. من سر از امروز تورا نمیشناسم ! خدا (ج) هادی و حافظ تو!!! چای سردشدونا صرف شده ماندوبن خانه را ترک گفتم و درراه باخود میگفتم : (احساس مسؤولیت) ! (بی تفاوتی) !! (نفرین برتو پول که چه جوانان بااحساس را بنده خودساختی و از خدا (ج) بیزار شان کردی) !!!

مُسلمان سرتیری د طاغوت په زندان کی

څه ډول ربړیږي؟

* دافغانستان د مؤمن ملت پاڅون په د تول اسلامی ختیځ لپاره دلوی ژوند پیلامه وګرزی.
* په خدای (ج) بالدی پوخ ایمان لرل دهرراز کړان اوربړ زغملو یوه ډیرمنه وسیله ده.
* افغانی مسلمان زندالیان له خپلو معتقدا تو څخه خپیب دوله دسرپه بدل دفاع کوی.



لکه چی عباد الله وروو عقیده څرګنده کړیده ، نه ایلیدونکی مؤمن ملت په خپل ویاړلی اسلامی پاڅون سره نړی ته و ښوده ، چی د اسیا په زړګوتی انقلابی افغانستان کی لا اوس هم د ایمان حرارت او ګرمی په پوره اندازه شته ، داسی حرارت او ګرمی چی د شاوخوا ډیر نور اسلامی هیوادونه به هم که خدای (ج) کول ـ د پتمن ژوند د ګټنی لپاره وپار ولای شی .

هو !

د سرېخور کمونیزم د پراختیا غوښتنی پرخلاف د افغان برسیال اولس حماسه زیږوونکی جهاد به یوځل بیا په ټول اسلامی ختیځ کی د انقلاب ولولی هماغه شان ښیرازه او پیاوړی کړای شی ، لکه چی یې د پرنګی جابر طاقت پرضد پخپل لومړنی پاڅون سره د اسلامی هیوادو پرله پسی پاڅونو ته لار اواره کړی وه .

څکه خو علامه اقبال هم د اسلام د تیربرم د بیا ژوندی کولو په برخه کی خپل امیدوله

په دغه اتل قوم پوری تړی ، لکه چی ویلی یی دی :

آسیا یک پیکر آب و گل است

ملت افغان در آن پیکر دل است

از فساد او فساد آسیا

از کشاد او کشاد آسیا

د ډیر ویاړ ځای دی چی د اسلام د پت او عزت د بچاو لپاره داخل هم لوی خدای (ج) د افغانستان د مسلمان اولس په وسیله د دغه ستر رسالت د ترسره کولو اراده وفرمایله : که څه هم د اسلام د پت او عزت د ژغورنی په لاره کی دغه اتل قوم له راز راز ابتلاګانو او ازمیښتونو سره مخامخ شو ، خوله ښه بخته له هیڅ راز رېړ څخه یی غاړه ونه غړوله ، پر هجرت سر بیره څه د پاسه یو میلیون شهیدان ورکول ، او په سوونو زره بندیا نیدل یی دغه حقیقت ښه په ډاګه کوی ، دیته له اسلام سره د والهانه مینی او عشق څخه پرته نور څه ویلای شو ؟

د اقبال د دی لاندی شعر په مصداق :

زورمز زندگی بیگانه تر باد

کسی کو عشق را گوید جنون است

د لته د ننګرهار ولایت د کامی ولسوالی له «عباد الله» ورور سره د یوی مرکی په ترڅ کی ځینو هغو رېړونو ته چی د اسلام د عزت او ناموس په لارکی پر دغه اتل اولس تیر شوی اولا تیریږی د قلم د عفت په پام کی نیولو سره ، لنډه شان اشاره کوو :

پوښتنه :

د خپلی مبارزی پر پس منظر که یوڅه رڼا واچوی ؟

ځواب :

دخپلو نورو مبارزو ملګرو ترڅنګ می د زده کړی په ټوله دوره کی له حربی ښوونځی نه واخله بیا د حربی پوهنتون تر پایته رسونی پوری ، په کابل ښار کی د روسی ښکیلاک او په تیره بیا د خلق او پرچم په نامه د دوی د چاکرانو د باڼډونو د واقعی څیری په بربنډونه کی د هیواد د ننه د مجاهدینو له تنظیمونو سره تر خپلی وسی مرسته کوله ، چی په نتیجه کی په همدغه تور (!) د ګوډاګی دولت د مزدورو پولیسو لخوا زندانی او په دوه کاله بند محکوم کړای شوم .

سره لدی چی د بند په موده کی له ډیر کړاو او تعذیب سره مخ شوی یم : خو په خدای (ج) باندی پوخ ایمان لرل او د اسلامی انقلاب له بری سره یی کچه مینی دغه هر څه پرما اسان تیر کړل .

هو ! د بندی توب د دغه په ظاهر له مشقته ډکو شپو ورځو په زړه پوری یاد به د خوښی په ډیرو ښو شیبوکی هم زما له ذهن څخه ونشی وتلای .

پوښتنه :

د یرغلګر روس د مظالمو د بربنډولو په منظور که یوڅه زیات معلومات را کړی ؟

ځواب :

لکه چی پورته مو وویل د بند په ټوله موده کی له راز راز کړاوونو او تعذیبونو سره مخ شوی یم ، چی د لته یوازی یو دووته په اشاره بسیا کیږم .

کله چی صدارت ته د تحقیقاتو د بشپړولو لپاره وروستل شوم نو پوښتونکی (مستنطق) د جرم په باب له پوښتنی نه مخکی ، له ویښتانو نیولی پرځمکه راوپرځولم ، ښه شیبه وروسته چی له ځمکی نه را پاڅیدم او پرسرمی لاس را ښکه . پوه شوم چی موټی موټی ویښتان می وتی دی :

بل !

چی د پوښتنو پر وخت راتـه د ژمی په هغه سخته یخنی کی له واورو ډک بیرل ته د ورغورځیدو وویل شو ، نو غم را سره د دی خبری شو ، چی چیرته رانه بیرل وانه وړی، او دمستنطقینو(پوښتونکو) غصه نوره هم ونـه پاروم ، خیر بیرل تـه خو ورولویدم ، خو وهلو د ومره بی سده کړی وم ، چی په سوی او خوږلو پوهیدم .

ځو ساعته وروسته چې له واورین بیرل نه برق بخاری پلوته بوتلل شوم ، په لومړی سرکی خومی گومان وکړ ، چې گنی زما پر بدحالی به یې زړه سوی وی ، خو وروسته جوته شوه چې له ما او زما په څیر له ډیرو نورو ازادی مینو سره د دوی انسانی ضد سلوك او چال چلن د کمونیزم هغه شوم سوغات دی چې ځمونږ وطنی کمونستان یې په صفتونو نه مړیدل .

پوښتنه :

د مسلمانو زندانیانو کومه ځانگړی اتلواله (قهرمانی) په وړاړ سره یاد ولای شی ؟

ځواب :

لکه چې ښکاره ده مسلمانو زندانیانو پر افغانی ټولنه باندی د گران اسلام دوا کمنولو په لارکی زښتی ډیری اتلوالی یادگار پری ایښی دی ، چې د اسلامی انقلاب پیښلیك (تاریخ) به ئی پخپل وار په ځلنده ټکوثبت کاندی ، خو کومه ځانگړی اتلواله چې زمونږ د انقلاب ماهیت ښه ترا ښودلای شی دا وه چې : د نوی (روسی) جاهلیت پلویانو . د زاړه غربی ، جاهلیت د پلویانو په څیر د مسلمانو زندانیانو د روحی تعذیب لپاره د دوی په وړاندی د اسلام د ستر پیغمبر (ص) په باب ځینی نا کاره کلیمات کارول. په مقابل کی مسلمانو زندانیانو به سره لدی چې پوهیدل ، چې د خپلو مقدساتو او معتقداتو دفاع او ننگه کول ډیر سخت ربړونه له ځان سره لری خو بیایی هم خبیب (رض) ډوله د سر به بیه د خپلو اسلامی عقایدو څخه په مزه دفاع کوله .

قوی امید لرم ، د مسلمانو افغانی زندانیانو دغه اتل واله د نورو ترستم لاندی اسلامی ټولنو لپاره د ایمان تاندولو یو پیاوړی محرک وگرځی .

پوښتنه :

د خپلو مجاهدو او مهاجرو ورونو لپاره څه پیغام ورکول غواړی؟

ځواب ؛

د جهاد د سره سنگر اصیلو وارثانو مجاهدینو لپاره زما پیغام دادی چې څومره ژرکیدای شی د نړیخور کمونیزم د یرغلگرو لښکرو په وړاندی به د «بنیان مرصوص» جوړونی لپاره خپل بیلا بیل صفونه یو موټی کاندی . دا ځکه چې الهی نصرت او مرسته تل له یووالی سره مله وی .

لکه چې حدیث شریف دی :

ید الله مع الجماعة

بل ، خپلو ټولو مهاجرو ورونو ته په لوړ آواز وایم چې :

د گران اسلام د عزت او ناموس په لارکی ستاسی سرښندنی او اتلوالی د زښتی ډیری ستاینی وړدی . څه دی چې په دغه پتمنه لارکی مو له لاسه ورنکړل ؟

رښتیاهم ستاسی په ورین تندی د ایر د له کړانه ډك ژوند تیرول باید د یو لوړ هدف د حصول لپاره وگڼل شی .

خو بد بختانه د اسلامی انقلاب د ستی دښمنان مذبوحانه هلی ځلی کوی چې زمونږ ویاړلی انقلاب د اسلامولی له جادی څخه په بیلا بیلو چلونو بی لاری کړی . چې نور ختیځ وال د انقلاب له دغه روڼ مشال څخه د پتمن ژوند گټنی په لارکی گټه وانه خیستلای شی . او په دی توگه لا ډیره نوره سوده هم د استعمار لپاره شیدی ورکړای شی .

نو تاسی باد ر ده او با احساسه مهاجر ورونه به په پوره هوښیارتیا د لویدیځ د گمارل شوؤ شوم پلانونه هم لکه د ختیځ هغو په شان په نطفه کی شنډ کړی .

ډاډ درکوم چې د استعماری ځواکونو د ناځوانمردانه توطئو سره سره بیاهم زمونږ ویاړلی انقلاب د بری په لور اوچت گامونه اخلی ، چې د ټول اسلامی ختیځ لپاره به په نږدی راتلونکی د نوی ژوند پیلامه وگرځیدلای شی .

د دغسی ورځی د ژر را رسیدو په هیله !

ـ د خدای په آمان ـ



شهید ورور محمد صادق «زرین خیل» د ملا محمد
عالم خان زوی د سید آباد ولسوالی د لړمی د کلی
اوسیدونکی په ۱۳۳۱ کال په لوسوړی کلی کی زیږیدلی
دی د ښوونځی په درس برسیره ئی د دینی علومو زده
کړه هم څه ناڅه ترسره کړه په ۱۳٤۹ کال ئی
د اسلامی تحریک دعوت ومانه او د هغه غړی
وګرځید په ۱۳۵۱ کال د سید آباد له لیسی څخه
فارغ شو او د خپل ماموریت په دوره کی ئی په
اسلامی مبارزه کی فعاله ونډه د رلوده د لعین حفیظ
د حکومت په وخت کی بندی کړ شو خو په افغانستان
باندی د روسانو د نظامی یرغل له وروسته بیرته
خوشی کړ شو له هغه وروسته ئی د وسله وال جهاد
ډګر ته ورود الګل ترڅو په ٤-٥-۱۳۵۹ نیټه
د یرغلګرو روسی قواؤ سره د یوی لویی جګړی په
ترڅ کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

. شهید ورور ملا محمد عمر چی اصلی
نوم ئی محمد حسن ؤ د ملا دین محمد زوی د
هلمند ولایت د نهر سراج ولسوالی د قلعه ګزر د
کلی او سیدونکی ؤ لومړی زده کړه ئی ترشپږم ټولګی
پوری د قلعه ګزر په ښوونځی کی تر سره کړه په هغه
بر سیره ئی د دینی علومو زده کړه په خصوصی توګه
تر یوی اندازی بشپړه کړه ترڅو چی په افغانستان
کی د سره استعمار ګوډا ګی رژیم را منځ ته شو په
۱۳۵۷ کال په هجرت کولو مجبور شو که چی د وسله
وال جهاد ډګر ته د شونو لومړی زابل او بیاو روسته
هلمند ته ولاړ په ډیرو جګړو کی د دین او وطن
د دښمنانو سره و جنګید لوسوړی د ښو اخلاقو
خاوند ؤ په ۱۳۵۷ کال د هغی جګړی په ترڅ کی
چی د ګر شک ـ هرات په لویه لاره د روسی قواؤ
د یوه کاروان سره و نښته د شهادت لوړ مقام ته
ورسید (انا لله وانا الیه راجعون) .

شهید ورور عبدالرشید چی اصلی نوم
ئی نظر محمد دی د ګلزار خان زوی د لوګو ولایت
د برکی برک د ولسوالی دخلوزبو د تویکی په کلی
کی زیږیدلی دی لومړنی زده کړه ئی د خلوزبو په
لومړنی ښوونځی کی او ثانوی زده کړه ئی د برکی
برک په لیسه کی په ۱۳۵۷ [illegible] پای ته ورسوله
او له هغه و روسته ئی د سره استعمار د لاس پوڅی
رژیم پر ضد په وسله وال جهاد لاس پوری کړ دغه
ورور ډیر متقی او امین شخص ؤ په ډیرو جګړو
کی ئی ګډون وکړ او د اسلام او وطن
دښمنانو ته ئی غاښ ماتوونکی ځواب ورکړ دغه
نومیالی مجاهد د ۱۳٦۱ کال د منی په لومړیو

گر دید ، یک تعداد کسانی که اصلاً در خط جهاد و مبارزهٔ ملت قهرمان مطرح نیستند گاهگاهی از را دیوهای استعماری غرب آواز بلند میکنند و خود را به عنوان یکی از رهبران مجاهدین افغانستان معرفی میکنند به روم تشریف میبرند ! ! ! آنجا با آنهایی که ملت را به دست عفریت کمونیزم تحویل دادند مجلس دایر میکنند ونام از آزادی افغانستان میبرند . ما ازین آقا یان میپرسیم سالها قبل که دست استعمار گر و خون آلود روس به خاک افغانستان دراز شد چه احساس مسؤولیت کردند آیا آن وقت هم با اسلام تعارفی داشتند و یا خیر ؟ آنها که در پشاور در اولین نشریهٔ شان خط شان را بملت و جهانیان معرفی داشتند و "اسلام و نا سیونا لیزم و دیمو کراسی غرب" را بیک نظر دیدند حال چگونه میشود این ملت را بنام اسلام فریب دهند .

بلی ! در طول جهاد مقدس همه چهره ها پیش از پیش شناخته شد. آنهایی که سالها قبل در برابر همه انواع کفر وبانی اصیل کمونیزم جهانخوار دست به جهاد ومبارزه زده بودند و خط اصیل اسلام راتعقیب میکردند دریک صف قرار گرفتند و آنهایی که در افغانستان در برابر کفر و بیداد ها مانند شیطان اخرس خاموش بودند وچند لحظه عیش ونشاط راغنیمت شمرده بودند بحکم "حتی یمیز الخبیث من الطیب" از صف ماجداشدند طوری که قبلاً هم جدا بودند. وباردیگر عدم علاقه وبی‌تفاوتی خودرا باارزشهای اسلامی وناموس دین و ملت اثبات رساندند .

حال توجه کنید به دو نکتهٔ مهمی که از را دیو استعماری (بی‌بی‌سی) ابلاغ کردند یکی از شرایط حل سیاسی معضلهٔ افغانستان را اطمینان ـ قدرتهای بزرگ یعنی روس و امریکا قرار داده‌اند گویا باین امر صراحت نموده که جوانب قضیه یک طرف روس و طرف دیگر امریکا میباشد در حالیکه مسئلهٔ حمله روس برخاک افغانستان مسئله ایست بین ملت مجاهد افغانستان و روسهای سفاک وجانی که حل این معضله فقط از طریق جهاد ممکن است. از همین‌جا است که این ملت راه حل این مسئله را درک کرده است وسنگر های داغ جهاد را داغتر نگهداشته اند وهیچ قدرت بزرگ جهانی صدای استعانت رانداد تامسأله را از طریق سیاسی حل کنند که طرف تائید و اطمینان آنها نیز باشد .

نکته دیگری که خیلی قابل توجه است این است که جناب فرمودند : "وتصمیمی که آیا نظام چه نظامی باشد باارادهٔ ملت افغانستان مربوط است ."

این آقایان که تابحال دربارهٔ نظام اسلامی هیچ تصمیمی ندارند چگونه نام از اسلام میبرند حال انکه از اصول عمدهٔ مبارزاتی است که هرگروه سیاسی نخست خطش را واضح میسازد و آنرا ابلاغ میکند و بعداً مردم را به آنسو دعوت میدهند نمیدانیم کسانی که هیچ مسلک ندارند وطبق اصطلاح "پیش آمد و خوش آمد" هر نظر وهر نظام موردتائید شان است چطور بخود جرأت میدهند که این ملت را یکباردیگر فریب دهند؟ نی، این ملت دیگرآن ملت خواب برده نیست بیدارشده، در رگ‌رگ شان عشق ایمان و خدا پرستی دمیده، دیگر ظاهر شاه وا مثال آنها درین شان جاندارد دیگر دلق های آلوده نمیتواند نظراین ملت قهرمان را بسوی خود بکشاند .

شهادت دراه اعلای دین خدا (ج) شعار این مردم گشته و قرار وعدهٔ الهی "ان الله لایضیع اجر المؤمنین" این پاسبا نان دین خداوند (ج) روزی شاهدمراد را به آغوش خوا هند کشید وآن روز دور نیست .

انشاءالله

وختو کی یوه ورځ له لسوټو نور و مجاهدو ورونو سره د کفری قواؤ څخه د لحاظ خان سړک د ساتلو په غرض ولاړ کله چی د دښمنانو قوا دوی ته راورسیده دجنګ ئوکړتو د شو بې شمیره کمونستان په دغه جنګ کی له منځه ولاړل په پای کی د اسلام د لاری دغه اتل مجاهد دخپلو تولو ملګرو سره د شهادت لوړ مقام ته و رسید (انا لله وانا الیه راجعون).

شهید ورور جمال ناصر د حاجی روزی خان زوی د ننګر هار ولایت د رودات ولسوالی د کوتڼه سنګی په کلی کی په ۱۳۳۸ھ ش کال زیږیدلی دی دغه ورور لو مړی په خصوصی توګه دینی او عصری زده کړه و کړه و روسته په ۱۳۵۳ھ کال د محمود هوتکی دپوهنځی په شپږم ټولګی کی شامل شودی په هر ټولګی کی اول نمره ؤ د ۱۳۵۸ھ د جدی د شپږ می نیټی و روسته یې هجرت و کړ او په پاکستان کی یې د مجاهدینو په دفتر کی کار کاو څه وخت و روسته د وسله وال جهاد کولو لپاره بیرته وطن ته ولاړ په پای کی د ۱۳۵۹ کال د قوس په اولو ورځو کی کله چی د ملحد دولت او یرغلګر و روسی فوځونو یوه لویه قوه د ننګر هار ولایت د مجاهدینو په یوه لوی مرکز (توره بوړه) باندی یرغل و کړ د زیات مقاومت کولو نه و روسته دغه ورور په ۵-۹-۱۳۵۹ نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید (اناالله وانا الیه راجعون).

شهید ورور خان امیر د ملا شرف الدین زوی د میدان او وردګو د ولایت د سید آباد د ولسوالی د غانبی د کلی اوسیدونکی د اسلام د لاری یو قهرمان او زړور مجاهد ؤ نوموړی د جبهی د فرهنګی مسئول استاد اقامیر مشر ورور ؤ چی د ملحد دښمن په ضد ئی په ډیرو بریدونوکی ونډه د رلوده په پای کی په ۳۰-۱-۱۳۶۱ نیټه د ګربت په سیمه کی د یوی جګړی په ترځ کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور عبدالرشید چی فرعی نوم یې رستم ؤ د شهید محمد قاسم زوی د هلمند ولایت د موسی قلعه د ولسوالی د خواجه داد د کلی او سیدونکی ؤ زده کړه یې د موسی قلعه او تر ینکوټ

په لیسوکی سرته ورسوله نوموړی د اسلامی احساس له مخی په ۱۳۵۰ کال په اسلامی تحریک کی شامل شو په هغه جنگ کی چی په ۱۳۵۲ کال د موسی قلعه په لیسه کی د اسلامی مبارزینو او کمونستانو ترمنځ و نښت او دوه کسه کمونستان پکښی تپی شول دی هم پکی شامل ؤ نو ځکه دی او پنځه کسه نور ملگری یی د داؤد د مستبدرژیم له خوا په یوه کال اولس میاشتی حبس محکوم شول کله چی له جیل نه خلاص شو او په افغانستان کی ملحد رژیم را منځ ته شونو د وسله وال جهاد په لور یی د دعوت دنده پیل کړه او د کندهار په ښار کی یی د چریکی فعالیتونو دقومالدان په توگه کار کوه خود افغانستان په حربیه بانډی د سرو فرخونو د مستقیم تیری له وروسته بیاد دښمنانو له خوا ونیول شواو د څو ورځو شکنجو او تعذیبونو په لید و سره د شهادت لوړ مقام ته ورسید (انا لله وانا الیه راجعون).

- شهید ورور اختر گل د نور جان زوی د ننگرهار ولایت د شیرزاد علاقداری د مرکی خیلو او سیدونکی د خدای (ج) د لاری یو مخلص او پیاوړی مجاهدؤ په ۱۳۵۸-۳-۲۰ نیټه یی په وسله وال جهاد لاس پوری کړ او په دی لاره کی یی زیاتی هلی ځلی وکړی په پای کی په ۱۳۶۰-۱۱-۲۸ نیټه دیر غلگر و روسی قواؤ له خوا په یوه جگړه کی شهید شو (انا لله وانا الیه راجعون).

. شهید ورور نیاز بت خان د چټ خان زوی په قوم منگل د پکتیا ولایت د لژی ولسوالی اوسیدونکی د اسلام د لاری یو پیاوړی مجاهدؤ په ډیرو جگړو کی د دهری رژیم د قواؤ سره وجنگید په پای کی د ۱۳۶۰ کال د ثور په میاشت کی د ملحد رژیم د هغی قوی سره د برید په جریان کی چی د لژی له لاری څخه گردیز ته روانه وه د شهادت لوړ مقام ته ورسید. (انا لله وانا الیه راجعون)

. شهید ورور وړوکی بلبل جان د شهید خان امیر زوی او د استاد اقاسیر و راره د میدان او وردګو د ولایت د سید آباد ولسوالی د غانبی د کلی اوسیدونکی یو تکړه او سرتیری مجاهد ؤ د ملحد رژیم په ضد په ډیره میړانه سره وجنګید ترڅو په ۳۰-۱-۱۳۶۱ نیټه د ګربت په سیمه کی د خپل پلار سره یوځای د دښمن د قواؤ سره د یوی نښتی په ترڅ کی شهید شو.
(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور خان جندر خان د سید عمر خان زوی د ننګرهار ولایت د تیر زار د علاقداری د سرکی خیل کلی او سیدونکی ؤ د نوموړی په ۸-۱۰-۱۳۵۷ نیټه د دهری رژیم پرخند وسلوال جهاد پیل کړ او په ۲۸-۱۱-۱۳۶۰ نیټه د نملی په سیمه کی د سره استعمار د قوځونو له خوا په یوه جګړه کی شهید شو (انا لله وانا الیه راجعون).



- شهید ورور خان د شاه حسین زوی د میدان او وردګو د ولایت د چک ولسوالی د بکسمند ددری او سیدونکی د خدای (ج) د لاری یو تکړه او سرتیری مجاهد ؤ چی د ۱۳۶۱ کال په اوری کی د ملحد رژیم د قواؤ سره په یوه خونړی جګړه کی شهید شو (انا لله وانا الیه راجعون).

شهید ورور صفت خان د حاجی میرا جان زوی د پکتیا ولایت د څمکنیو د ولسوالی داور کاره او سیدونکی په ۱۳۴۵ ه ش کال په نوموړی کلی کی زیږیدلی دی صفت خان ورور د تکړه او وفادارو مجاهدینو څخه ؤ او د اسلام په لاره کی د اسلام د دښمنانو په وړاندی په له ستړی کیدونکی توګه جنګیدلی دی ترڅو په ۱۴-۱-۱۳۶۲ نیټه دښهر نو په غند باندی د یوه برید په ترڅ کی د دښمن د فرش شوی مین په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته و رسید (اناالله وانا الیه راجعون).

. شهید ورور حکمت‌خان د یاغي خان زوی

د پکتیا ولایت دځکمنیو د ولسوالی داور کاره او سیدولکی یوزړور او مخلص مجاهدؤ لوموړی د پکتیا ولایت دسید کرم او شهید عارف په جبهو کی په پوره میړانه سره د دهری قواؤ په مقابل کی و جنګید ترڅو په ۱۳۶۲-۱-۱۷ نیټه د شهر لو په ۱۷ غ.ډ باندی د یوه برید په وخت کی د دښمن د کار شوی مین د چاودنې په اثر شهید شو (انا لله وانا الیه راجعون).

. شهید ورور عرب خان د محمد عمر زوی

د میدان او وردګو د ولایت د چک د ولسوالی د بکسمند د دری او سیدولکی د اسلام یو نکره او زړور مجاهدؤ لوموړی ورور د ۱۳۶۱ کال په اوړی کی د دهری دښمن د قواؤ سره د یوی خونړی جګړی په جریان کی په شهادت و رسید (انا لله وانا الیه راجعون).

. شهید ورور ظاهر خان و خبط خان زوی

د ننګر هار ولایت د رودات ولسوالی د چپر هار علاقداری د غزو په کلی کی په ۱۳۲۰ هـ ش کال زیږ یدلی دی لوموړی یوه اندازه دینی زده کړه په خپل کلی کی ترسره کړه. ده به همیشه د ملحدینو د فعالیتونو د خنثی کولو په لاره کی مبارزه کوله او په ۱۳۵۷ کال یې په وسله وال جهاد لاس پوری کړ د جلال آباد په هوائی ډګر او چپر هار کی یې هم په ډیرو جګړو کی برخه واخیسته په پای کی په ۱۳۶۱-۱۱-۲۶ لیټه د یوی جګړی په ترځ کی شهید شو (انا لله وانا الیه راجعون).

ولاتحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتاً بل احیاء عند ربهم یرزقون

دجهاد دسره سنګر شهیدان

«شهید استاد ګلا جان»

له هغه ځایه چه د هر فکری لظام دعینی تجسم ، عملی حاکمیت او قیام له پاره سنبال شوی ټولنیز قوت ته ضرورت دی. له همدی کبله ده چه داسلام مبارک دین د ټولنیزو واقعیتونو په جریان کی ددی فکری سیستم د عملی قیام په وړاندی د فکری ، فرهنګی ، سیاسی او ټولنیزو خنډونو د له منځه وړلو لپاره د اصلاح شویو افراد ونه مرکب اجتماعی ځواک په جوړولو ټینګار کوی.

په دی ترتیب مخکی لدی چه په ټولنه کښی په یوبنسټیز او پراخ اجتماعی بدلون او اوښتون کارپیل کړو . باید پخپله د اید یا لوژی په اثر یوبدل شوی افرادی ځواک و لـرو د چاچی موروثی او محیطی شخصیت په یو فکری او اید یالوژیک شخصیت بدل شوی وی د همدی حقیقت په پام کی نیولو سره د مجاهد افغانستان ځوان اسلامی غورځنګ د خپل ټولنیز ژوند په او ږدوکی د عقیدی په لیاره کی د خپل ایډیال د تحقق په لوری ډیر قربانی ته چمتو ځوانان دی تاراک ځپلی ټولنی ته وړاندی کړی دی. زمونږ د تاریخ په بستر پرتی رنځوری ټولنی ته د اسلامی غورځنګ د زرهاوو پیشکشو ځخه یوهم شهید استاد ګلا جان رح چاچه

د خپل ژوند په بیه د خپل خدای
فکر او ټولنې په وړاندې د تعهد
لوړه پرځای کړه .

شهید استاد ګلا جان د اخند
عنایت الله خان زوی ده په
په ۱۳۲۵ لمریز کال د پکتیا
ولایت مرکز ګردیزکی داخ و
ډب نه ډکې نړی پرمخ سترګی و
غوړولی او د خپل عمر په اوه‌کانی
کی د ګردیز په منځنی ښوونځی
کی شامل او ترنهم ټولګی پوری
یې خپل‌زده کړه په نو موړی
ښوونځی کی ترسره کړه وروسته
بیاد کابل په دارالمعلمین کی شامل
شو او په ۱۳۴۶ کال د نوموړی
د دارالمعلمین له فارغیدو وروسته
پکتیا د سید کرم په منځنی
ښوونځی کښی د ښوونی دنده ور
وسپارله شوه . شهید استاد
ګلا جان په ۱۳۴۹ کال د کابل
پوهنتون دکانکورله‌از موینی نه په
بریالی تیرید وسره د ساینس په
پوهنځی کی شامل شو . په دغه
وخت کی د افغانستان د رنځوری
ټولنی د افق تیاره لمنی د اسلامی
غورځنګ په روڼ سبا روښانه
شوی وی .

استاد په ښېړه ایمانی اراده او
ټینګ هوډ ددی روڼ سبا پلوشوکی
د خولی رنځیدلی ټولنی د خطرناکی
راتلونکی په درک کولو سره د فکر
سیاسی او فرهنګی انحطاط او فساد
وړاندی د اتلوالی مبارزی ویاړ
وګاټه .

شهید ګلا جان د خپلو کوړنیو
ملا ما تونکو ستونزو وسره سره
د تحصیل په دوران کښی د
اسلامی غورځنګ یو وفادار او
فعال غړی و . په ۱۳۵۲ کال
شهید استاد د ساینس له پوهنځی
څخه فارغ او د زرمت په لیسه
کښی د ښوونی د ندده ورته
وسپارله شوه .

هغه په نو موړی لیسه کی
د خپلو درسی مسؤلیتونو ترڅنګ
د شاګردانو فکری عقیدتی او
اخلاق سمبالښت ته زیاته پاملرنه
او هلته‌ئی د کمونیزم د منحط فکر
دبی‌ناموسه پیروانو په‌خلاف په زړه
پوری مبارزین و روزل د غوائی
د رسوا فاجعی په رامنځ ته کید
وسره استاد د خپلو مسلمانو ورونو
د اذهانو د تنویر او دځان
پلورلی کمونستانو ناولی ماهیت
د رسوا کولو کار لا جدی کړ .

په ۱۳۵۸ کال د زرمت د
مسلمانو خلکو د عمومی قیام سره
سم استاد وسله په لاس کی
واخیسته او په ډیر شهامت ئی
د کفر او کمونیزم په خلاف
جهاد وکړ . دهمدی کال په ژمی
کی ئی پاکستان ته هجرت وکړ .
خود دریو میاشتو د تیرید وته
وروسته له اسلام او خپل مظلوم
ملت سره هغه مینی او عشق چه
دده د زړه او ضمیر په تل کی ئی
ځپی وهلی زیات اوسیدلو ته پری
نه ښود او بیرته د جهاد تاوده
سنګرته ستون شو - هلته ئی
د وسله‌وال مقاومت ترڅنګ
د سیمی په جهاد او انقلاب پوری
تړلیو ستونزو اوپرابلمونو په حل
کی فعاله ونده درلوده .

رښتیاهم چه شهید استاد ګلاجان
په واقعی معنی د حق او عدالت
د سنګر په زړه پوری پاسدارو
له یوی خواکه د کمونیزم او
فساد په وړاندی د هغه مقاومت
حماسی - زیږ ولی له بلی‌خواد هغه
فکر عمل او ژوند د اصیل او
انقلابی اسلام په زړه پوری
ممثل و .

د خدای د لاری دا اتل مبارز
د ۱۳۶۰ کال د قوس د میاشتی
په ۱۶ نیټه د خدای (ج) د رضا
د ترلاسه کولو اوتل پاتی ژوند
ته د رسید وپه تکل د زرمت په
سیمه‌کی د روس د وینی څښونکی
عسکر وسره په یوه‌لاس او
ګریوان نښته کښی د فانی نړی
نه سترګی پټی کړی . (انا لله
وانا الیه راجعون.)



له یوی مسلمانی کورنۍ څخه دری تنه شهیدان

د کنړ ولایت د پیچ په دره کی د گنډ گل په کلی کی یوی مسلمانی او دین پالی کورنۍ د اسلامی انقلاب د شهیدانو له و یاړه ډک کاروان ته داسی ځوانان وړاندی کړی دی چی هریوئی د الله(ج)د کلمی د لوړولو او په افغانستان او نړی کی د اسلامی عدل د حاکمولو لپاره له خپل ځان ، مال او هرڅه له تیرو او د دوی له لویو آرزوگانو څخه یوهم شهادت ؤ چی هر یوئی په خپل وار سره د غی سپیڅلی آرزو ته و رسید او ځنی ئی ورته سترگی په لاره دی موږ په داسی حال کی چی د نوموړو شهیدانو څخه په لاندی توگه مختصراً یادونه کوو دوی او پاتی‌کسانو ته ئی له‌لوی ښتن تعالی څخه اجرونه اۈ جمیل صبر غواړو.

الف : شهید ورور عبدالحمید د مولوی گلزار زوی او د مولوی فضل کریم ورور ؤ .

مولوی فضل کریم چی په سعید الله سره مشهور دی د اسلامی تحریک د لومړیو ورځو څخه ئی د خپل اسلامی احساس او مسئولیت له مخی د اسلام د دښمنانو پر ضد مبارزه پیل کړی وه په دی اساس د جلاد داؤد رژیم و نشوز غملای چی حتی د افغانستان په یوه لری پر ته‌گوښه کی دی هم د هغه په خلاف څه وویل شی او یا کوم عملی قدم پور ته شی هغه ؤ چی د ۱۳۵۳ هـ ش کال د روژی په میاشت کی د رژیم له خوا څخه یو قومندان او د وه تنه عسکر له وسلی سره د دوی کلی ته ورغله او مولوی فضل کریم ئی د کلی په جومات کی پیدا کړ او وئی نیو که څه هم د کلی خلکو د مولوی‌صاحب د پریښو دلو لپاره ډیری هلی ځلی وکړی خو و نه منلی شوی په دی وخت کی د هغه ورور عبدالحمید چی په کورکی ؤ خبر او د ابتل ئی په مغزوکی راو گرځید چی وائی : «کړه خوله په سوک سمیږی» خپل توپک او کمربند ئی را واخیستل او قومندان ته ئی دری ځله وویل چی مولوی صاحب پریږده خو هغه و نه منله نو عبدالحمید د توپک د زور باندی و کړکله چی هغه پاید و لگیدنو ولوید له هغه و روسته د دوی ترمنځ جگړه و نښته قومندان ، یو تن عسکر او یو تن له کلیوالو څخه چی د دولت پلوی ئی کوله و وژل شول په دی ترځ کی نومیالی ورور عبدالحمید د شهادت مقام و

ګا ته (انا لله و انا الیه راجعون)
مولوی صاحب فضل کریم کله چې
ورور یې شهید شو د هغه ټوپک
او کمربند یې ځنې و اخیستل او
غره ته ولاړ خودوهم عسکرو
تښتید او په یوه بل کلي کې
پټ شو.

ب : شهید ورور معلم میرانګل
چې د مولوی فضل کریم وراره
ؤ د اسلامی تحریک یو مخلص او
وفادار غړی ؤ د اسلام په
لاره کې یې نه ستړی کیدونکی
مبارزه کړی ده دغه ورور د داؤد
د فاشیست رژیم په دوره کې بندی
کړ شو خود بند په وخت کې هم
ده له اسلامی مبارزی څخه لاس
وا نه خیست ترڅو په محبس کې
د رژیم د جلادانو له خوا په
ډیره بې رحمی او ناځوا نمردانه
توګه په شهادت و رسول شو.
(انا لله و انا الیه راجعون).

ج : شهید ورور جګتورن محمد
تراب هم د مولوی فضل کریم
وراره او د ذکر شو و شهیدانو
تره زوی ؤ نوموړی یو مسلمان
او مبارز منصبدار ؤ چې د الله د
کلمې د لوړولو په لاره کې یې هر
راز قربانی په ځان منلې وه کله چې
په افغانستان کې د سره استعمار
ګوډاګی رژیم رامنځ ته شو ده
خپله مبارزه لاپسې ټینګه کړه هغه
ؤ چې د تره کی د ملحد رژیم له
خوا بند ته و غورځول شو او
هلته د ډیرو تکلیفونو او شکنجو
له تیرو لوو روسته د شهادت
لوړ مقام ته ور سید (انا لله و انا
الیه راجعون).

د يوه ځوانيمرگ (نيمه خواه) شهيد لنډى سوانح

څرگنده او په ډاگه ده چه هر مولود پر اسلامى فطرت زيږى خو چا پيريال ، ښوونه او روزنه او ورځنى حاكم قوتونه د انسانانو د نيكمرغى يا بد مرغى سرنوشت كى مؤثر دى خو بيا هم سالم ، الگړ او سپيڅلى ، سؤد به كورنى د يوه ماشوم په فكرى او عملى جوړښت كښى ډير رول لوبوى. پوره شل كاله پخوا ۱۳٤۱ كى د قندهار ولايت ، پنجوائى ولسوالى او زنگى آباد كلى كښى په يوه متدينه ، مسلمانه او مبارزه كورنى كښى شهيد محمد نسيم آغا دغه فانى دنيا ته سترگى را پرانيستلى ، د دوى د پلارنوم (سيد محمد نبى آغا) چه په (لعلى جان اغا) مشهور دى - او د نيكه نوم ئى سيد عمر جان دى (چه د قندهار د ساداتو يو محور او عاليقدر شخصيت ؤ) .

نوموړى شهيد د ماشومتوب په لومړنيو شپو كښى د پوهنى او علميت سره ډيره پريمانه او بيحده مينه درلوده ، ترڅو په خصوصى توگه ئى زيات متداول علوم زده كړل - سيد محمد نسيم اغا ډير غوره او او چت اخلاق درلودل چه د سيمى اوسيدونكى ټول د همدى ستړو اخلاقو له مخى پرى مين اوپه ډير درناوى ئى ورته كتل ، د ټولو په زړونو كښى ئى ځاى نيولى ؤ .

كله چه مرتد كمونيستى (الحادى) كړغيړن نظام د مؤمن اولس په سر په زور تحميل شو ، نوموړى د ځوانى په لومړنى پسرلى كښى د ښه درك او ژور فهم له مخى دا كثيف بيدينه نظام وپيژاند او د فكرى دعوت په سلسله كښى ئى د نورو مشرانو (پوهانو او روشنفكره ځوانانو) سره يو ځاى د مؤمنو عناصرو او مسلمانو پرگنو سره را بلنه مشغول او لگيا شو ، ځكه نوموړى ځوانيمرگ د اسلامى شريعت د لومړنيو مباد يو سره پوره اشنا ؤ او په زغرده ورته بريښيدل چه د كمونيستى نظام انجام او عاقبت د اسلامى دين ختمول دى. كه څه هم نوموړى نيمه خواه مجاهد ډير وړوكى ؤ خو فكر او بلنه ئى ډيره او چته او ډير عالى او زياته لوړه وه، ترڅو د بانى په ښنگ كښى (چريكى عمليات) يا گوريلائى كاروائى پيل شول - نوموړى د اسلامى اتحاد په تنظيمى چوكاټ كښى د زمرى په څير په دغه

فعالیتونو کښې مخ په وړاندې
روان ؤ .
د چریکي جګړې د زیاتو
بریالیتوبونو په لړکښې ئې په یوه
منظمه جبهه کښې د مجاهدینو د
علمي او ذهني ودې لپاره . د
غوره ابتکار له مخې د خپلو
انډیوالانو علمي سو يې ته
پوره توجه او کامله پاملرنه وکړه
ځکه هغه پوهیدی چه د اسلامي
انقلاب راتګ د علمي او فکري
بعد او ثقافتي اړخ د غوښتن کیدلو
نه پرته نا ممکن حتی محال دی.
دغه اتل او قهرمان ځوان
په ډیرو شبخونونو او د ورځې
په ډاګه معرکو او جهادونو کښې
فعاله ونډه درلوده خو د دې
معرکو په جریان کښې ئې هر
وخت د یو بختور هیله ښودله -
ترڅو اخر الامرد (۱۳۶۱ هش)
د رمضان المبارک په (۱۷) نیټه
پداسې حال کښې ئې د حق
داعي ته لبیک ووایه چه د
دښمن قواؤ ته ئې زیات ځاني او
مالي زیانونه وراړولي وه او نوموړی
خوانیمرګ اتل د غښتلي زمري
په شان پر دښمن (خونخوار
کمونیزم) وردانګل - روح ئې
ورکړه .

(انا لله وانا الیه راجعون)

لاره دې تل او تلونکې دې
سو بمن وی .
شهیده غمګین مشه ستا ارمان دی
را سره
په کیڼ لاس کې خنجر ، ښي کې
قرآن دی را سره)



شهید ورور عبدالصبور د
عبدالقدوس زوی په کال ۱۳۳۳
هش د کابل ولایت د چهار
آسیاب د ولسوالي د موسهي د
علم جان په کلي کې زیږیدلی دی
او په کال ۱۳۴۲ يې برسیره پر
دیني زده کړه د موسهي پهلوړنۍ
ښوونځي کې زده کړه پیل کړه په
کال ۱۳۴۸ له هغه ځخه فارغ
او د چهار آسیاب په منځنۍ
ښوونځي کې شامل شو په کال
۱۳۵۵ يې د ۱۲ ټولګی دفراغت
بری لیک ترلاسه کړ او د فوائد
عامې په وزارت کې د مامور په
توګه مقرر شو د ۱۳۵۷ کال
غوایي د فاجعې نه وروسته يې
ماموریت پریښود په وسله وال
جهاد يې پیل وکړ او په ډیره
امانتداری او صداقت يې د جهاد
چارې اجرا کولې ترڅو په
۱۳۶۰-۲-۱۳ نیټه د ملحد
دولت قواو د موسهي د جبهې
په مرکز باندې وحشیانه یرغل
وکړ او د مجاهدینو د زیات
مقاومت په نتیجه کې ډیر کمونستان
ووژل شول او زموږ دغه ورور
هم له خپلو (۷۰) تنو همسنګرو
وروڼو سره د شهادت لوړ مقام
ته ورسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

. شهید ورور فضل محمد د
فیض محمد زوی د غزني ولایت
د قره باغ د ولسوالي د کریم خان
د کلي او سیدونکی ؤ ټکره او سر
تیری مجاهد ؤ نوموړی په
کوچنیوالي کې د وسله وال جهاد
لپاره ملا و تړله او په زیاته میړنه
سره يې د چریکي کنډک په فاروق



ګروپ کې جهاد ته دوام ورکړ
ترڅو په ۱۳۶۲-۱-۱۱ نیټه د
قره باغ په ولسوالي کې د دښمن
د قواؤ سره د یوې نښتې په ترڅ
کې له هغه وروسته چې مرمۍ
ورسره خلاصې شوې په شهادت
ورسید. (انا لله وانا الیه راجعون)

محمد زمان «مزمل»

په تیر بسی

د ایمان نقش په پرمختګ او مبارزه کې

ایمان د رسالت په مبدأ :

د یو قوم او یا وګړو ایمان د رسالت په مبدأ په دی معنی چه د کائناتو خالق او مالك خدای ، د انسان او ملك پیدا کوونکی رب ، د ژوند او طبیعت رقیب او متصرف خدای (ج) انسان او انسانیت ته د خپلی لاری او دین د تبلیغ او رسولو صحیح او مطمئن چینل تضمین کړی او په دی برخه کښی هغوی ته د خپل دین او لاری د پوره وضاحت او بیا دین او امانت داری ته د بلنی او دعوت او بیا په هغه باندی د تلو او سمبالښت لپاره خپل غوره کړی مطیع ، امین او صادق بندګان د رسولانو او پیغمبرانو په توګه را لیږلی دی ترڅو د هغه قوم او وګړو په ژوند کښی تر ټولو مهم تحول او ژور بدلون راولی .

د کائناتو د خدای له طرفه د خدای (ج) د دین د تبلیغ او عملی کولو لپاره د داسی غوره بندګانو د توظیف او ماموریت په برخه کښی ایمان او باور ، بشریت ته ډیر څه وربښلی هغه ته د ټولو نه لومړی په دی برخه کښی ډاډ او اطمینان ورکوی چه د خدای غوره کړی دین او لاره انسان ته د اشنا او پیژندل شوو څیرو د لاری راغلی او دا مبدأ انسان ته چه په ژوندکی ورته سخته اړتیا لری ، چی هغه د ژوند په یوه سمه لاره د تلو په برخه کښی یو مطمئن آشنا همنوعه رهبری کړی او هغه ته په دی برخه کی څوك قدوه او نمونه ورکړی د پرتی لاری په برخه کښی اطمینان او ډاډ ورکوی .

همدا رسالت او په رسولانو باندی د ایمان خبره ده چی انسانیت په عمومی توګه په روحی ژوندکی د بی جهتی او په مادی ژوند کښی د لتاړیدلو نه ژغوری ، هغه د مطمئنو رجالو د ښو او مثالی کړو وړو ، تعامل او بی آلایشه ژوندانه د سیما او څیری مرهون او عاشق ګرځی . هغه ګوری او اوری چه په لویدلو او بی جهته ټولنو کښی د داسی په مادی لحاظ کمزورو انسانانو قیام او مقاومت د ژوند جهت بدلوی او انسانیت په یو مثبت جهت کښی روا نوی .

له همدی امله داسی با ایمانه انسان په طبیعی ډول په دی هم باور پیدا کوی چه هر څوك د خدای د دین او د بشریت د هوسای او سعادت په لار کښی په قیام او مقاومت لاس پوری کړی ، کیدای شی د خلکو د ژوند جهت بدل او هرو مرو به په دی برخه کښی د آسمانونو او ځمکو خالق خدای د هغه مرستندوی شی ، په دی ډول هغه د پیامبرانو د رسالت د داستانونو او په هغه باندی له ایمان او باور نه د ظلم او بی عدالتی په ضد د قیام او مقاومت درس اخلی .

کله چی د رسالت په مبدأ مؤمن انسان ګوری چه د تاریخ په اوږدو کښی د خدای مخصو بندګانو د خدای د دین او لاری د تبلیغ او ښودلو په منظور نه دا چه خپلی ټولی شخصی ګټی او مصالح شاته غورځوی بلکه په پوره میړانه او ایمانداری یی دوخت

د الله(ج) په سینه دست شهید عبدالله «سرشار»

د افغانستان اسلامی هیواد د انقلابونو زانګو ده په دی هیواد کی ډیر اسلامی قیامونه پیل شوی اودلوی او قادر خدای(ج) په مرسته بریالی شویدی او د هغو په نتیجه کی هر جابر او تیری کوونکی قدرت په ګونډه و شوی او د خپل کبر او غرور څخه لویدلی دی. د دی هیواد مسلمان او سپڅلی ولس دهر تیری کوونکی استعماری قوت په وړاندی په ډیر شهامت سره د خپل ایمانی توان په زور په تش لاس د جګړی په ډګر کی دریږی وهلی او د ښمن نه یی د سر په کاسه کی او به ورکړی دی دښمن هیڅکله دا موقع نه ده پیدا کړی او نه به ئی پیدا کړی چی په دی ملت باندی خپل ناوړه غرضونه تر سره کړی څکه په دی ملت کی ډیری داسی کورنی دی چی تل یی د کفری او استعماری تیری کوونکی قوتونو په مقابل کی د مبارزی او جهاد د سنګر لپاره اتل او قهرمان ځوانان تربیه کړی اوز سولی په اسلامی تاریخ کی یی د خپلو قربانیو او ویا ړونو یادګار د را تلونکی نسل لپاره په زرینو تکو ثبت کړی دی چی له هغی جملی څخه یو هم د لغمان ولایت د قرغیو د ولسوالی د کڅ د کنده غر په کلی کی یوه دینداره او پوهه کورنی ده چی د زمانی د طاغوتیانو او مستکبرینو د مقابلی لپاره یی ډیر غښتلی او د لوړی ارادی خاوندان زا من روزلی دی اوهر یوه یی د ملحد اوبی دینه رژیم د رانسکوزولو او د اسلامی انقلاب د کامیابی په لاره کی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کړیدی نوځکه هم د اسلام د ښمنه رژیم له خوا د دی کورنی د وه تنه اسلامی مبارزین د جیل په تورو ...وتیو کی اچولی خو د کورنی پاته غړو خپله اسلامی مبارزه لا نوره هم ورپسی ټینګه کړی او ډیر ځوانان یی په دی لاره کی قربانی شویدی چی یویی هم شهید ورور عبدالله «سرشار» دی دغه و رور چی اصلی نوم یی عبدالعزیز ، فرعی نوم عبدالله او تخلص یی سرشار دی د مرحوم نظر ګل زوی او په ۱۳۳۹ هـ ش کال زیږیدلی دی لومړنی زده کړه یی په ۱۳٤٦ هـ کال د کڅ په منځنی ښوونځی کی پیل کړه په ۱۳٥٤ کال ئی د کڅ په سیمه کی د اسلامی تحریک دورونو سره ارتباط ونیو او د

تحریک یو فعال او مخلص غړی وګرځید په ۱۳۵۵ کال د مزار شریف د نفت اوګاز تخنیکم دمسلکی لیسی په لهم ټولګی کی شامل شو هلته یې د تحریک دورونو سره ارتباط ټینګ کړ او د ملحد و عناصرو د فعالیتونو په ضد یې مبارزه کوله د ۱۳۵۷ کال د جوزا په میاشت کی یې خپل تحصیل چی تر یوولسم ټولګی پوری یې رسولی ؤ پریښو د خپل کورته ولاړ د کم وخت تیرو لو وروسته سرحدی سیموته ولاړ اوهلته پټ ګرځیده ترڅو په ۱۳۵۸ کال یې د خپلو مخلص ورونو سره یوځای د ننګرهار ولایت پر «جکی» نامی سیمه کی وسله وال جهاد پیل کړ د شهید ورور «ادم خان» تر قوماندہ لاندی یې د جکی ، و زیر و او سرخرو د په سیمو کی په ډیرو جګړوکی ګډون وکړ او د سروبی د ولسوالی په جنګ کی یې د مجاهد ورور «زاهد» تر قوماندہ لاندی په بریالیتوب سره و جنګید ، د ذکر شو و ورونو په مشوره یې د ۱۳۵۸ کال د حوت په میاشت کی د خپلو مخلصو مجاهد و ورونو په کومک د کڅ جبهه جوړه کړه د کڅ او قرغیو شاو خوا سیمی ئی له کمونستا نوڅخه پاکی کړی و روسته یې د قرغیو په ولسوالی باندی څوځله برید و کړ چی په یوه برید کی نوسوری په سینه باندی ټپی شو همدار از د سرخکانو او در و نتی ترمنځ یې د کابل - جلال آباد په لویه لاره باندی د ملحد دولت او د هغوی د بادا رانو په فوځی کاروانو نو باندی ډیر بریدونه وکړل په هر برید کی به یې د دښمن له قواؤ نه څو ټانګونه او نقلیه وسیلی و یجاړولی.

شهید ورور سرشار د قوی ایمان ټینګی ارادی او ښو اخلاقو خاوند ؤ د جهاد په ډګر کی ئی ډیوه برجسته او غښتلی قوماندان په توګه تبارز وکړ له دښمن څخه یې هیڅوخت تیښته نه کوله د مجاهدینو د تنظیم په برخه کی یې خاص مهارت در لود په هغه برسیره په شعر او شاعری کی یې ښه استعداد درلود د ده څنی انقلابی شعر و نه د «مجاهد آواز» په کتاب کی هم چاپ شوی دی.

په هغه نښته کی چی د ۱۳۵۹ کال د عقرب په پنځمه د نوسوری جبهی د مجاهدینو او د روسی قو او ترمنځ د کڅ د پروټ په سیمه کی و شوه روسی قواو ته زیات تلفات و اوښتل دری تنه د اسلام د لاری مجاهدین شهیدان شول (انا لله و انا الیه راجعون) او د سرشار ورور دلاس ګوتی هم ټپی شوی څه موده و روسته یعنی په ۱۸-۸-۱۳۵۹ نیټه روسی قواو د تور غره د کڅ جبهه ترسخت یرغل لاندی ونیوه چی د اجګړه د ده د ژوند و روستی اوتر ټولو سخته جګړه وه او په ډیر زیات تعداد روسی فوځونو د زیات شمیر ټانکونو ، زرهپو شونو ، هلیکو پټرو او جیټ الوتکو په حمایه هغه سیمه تراوړ لاندی ونیوه او محاصره یې کړه خود اسلام د سرتیرو له خوا ور سره په ټینګه مقاومت و شو او د دښمن قواوی تیښتی ته مجبوری شوی د هغی ورځی په سبا (د عقرب په ۱۹) د دښمن فوځونو د کڅ جبهه له دریو خو او څخه تر برید لاندی ونیوه او سخته جګړه و نښته او د تیری ورځی په شان د دښمن قواؤ ته زیات تلفات و ورسیدل چی ددوه ورځنی جنګ په نتیجه کی د دښمن (۱۳۰۰) تنه فوځیان و وژل شول او د جنګ په دو همه ورځ (په ۱۹-۸-۱۳۵۹ نیټه) د اسلام دغه اتل قوماندان له ۲۱ تنه مجاهدینو سره دزیات مقاومت کولونه و روسته د شهادت لوړ مقام ته ور سید.
(انا لله و انا الیه راجعون).



«خوشال» خوشاله شو ، خو !

د بیریی و غمول

د افغانستان دروان اسلامی انقلاب د ډیرو تاریخی او سیاسی لاسوند و نوا و دستاویزونو له مخی په ایمان، عقیده ، میړانه او اخلاص پیل شوی او په بشپړبری انشاءالله پای‌ته رسیدونکی دی .

ترخوچی د افغانستان د مؤمن ملت د ذهن په کروندکی د سربندنی ، هوډ ، دټولنیزوناخوالو د ذغم ، او اسلامی قیادت بوټی ناندوی ، ترهغی د اسلامی انقلاب د بی لاری کیډ و اټکل قدری هم ناشونی دی ، او ترخوچی زمونږدسر تیرو مجاهدینو په ارادوکی د «سعادت پر شهادت گټنی» تصور زرغون وی ، ترهغی به دا ملت په بشری ټولنوکی سرلوړی او محکښی وی .

د افغانستان پر اسلامی خاوره دوینی تویېدنی شهکار څه د کال دوو ، یاڅوکالو خبره نده ، بلکی دلته د عقیدی د اتاند بوټی له ډیرو راهیسی په وینو پایېدلی راغلی دی ، البته د وینی تویېدنی کیفیت وخت پر وخت سره بیلابیل و ، د اوینی کله د جبارانو ، طاغوتی‌نوا و اسلام د بډنو و اکمنانو په سیاه چالونوکی توبی شویدی ، کله په سره سنگر کی او کله یی د بی کوری ، بی کسی اوبی و سی په ترخ کی څمکه سره کړیده ، غایه او نصب العین صرف یوو او یو به وی .

زمونږ د شهیدانو د کاروان د جهادی تاریخ د زرین باب یوه پاڼه هم د «خوشال» شهید د ځوانیمرگ ژوندانه د رامی د که کړه .

یوه مقوله غوندی ده ، چی : «الاسماء تنزل من السماء» .

داته د «خوشال» د اخلاق حیثیت د تللو پروخت همیشه دغه مقوله سترگو سترگو ته کیږی چی یره ! دغه نومونه به رښتیاله اسمانه راکوزیږی یاڅنکه ، «خوشال» د داسی «اسم بامسمی» د شخصیت خاوندو.

«خوشال» له نن‌څخهیوویشت کاله مخکی د کامی په کندی کی وزیږ ید ، د کورنی د اخلاق حیثیت او تربیوی چاپېریال په باب یی همدومره بس دی چی کورنی یی پردومره اخلاق او اسلامی معیارونو ولاړه وه ، چی دی یی ترور و ستی شیبی همداسی د اسلامی اخلاقوپه گاڼه سمبال وروزه .

په (غالبا) ۱۳٤۷ ه کی د میاء پر لومړنی ښوونځی پخپلو شاگردانو کی و شمیره ، دلومړنیو زده کړو ترپای ته رسونی و روسته پری د کامی مراد علي لیسی خپله علمی ځولۍ خوره اوغوړوله ، اودزده کړی پدی ټول دوران کی یې د بوه و تلی او ځار (ممتاز) شاگرد په توگه تبارز وکړ ، اوتر ۱۳۵۸ کاله یې خان دولسم ټولگی ته رار سولی و ، چی د هیواد پر سیاسی اسمان د الحاد ، وریځی راخوری شوی وی ، ده د خپلی روحانی ارتقاء د مخنیوی له ویری د علم دغه دولس کلنه خواری سرماتی پریښوده ، او د فراغت سند اخیستل ورته نور عار ښکاریده.

لا به دلیسی په نهم لسم کی وچی دکورنی ترغیب له مخې یې د درسی پروگرامونو په لړکی د اصیل اسلامی فرهنگ اذان په غوږکی شو ، بیایې نو هغه د چا خبره د «لمد و ختولړی او بهبس وی» خپله مینه او استعداد پدی لارکی پوره ، پوره وگمارل ، او د همدغه خدای ورکړی جوهر له مخی هغه (شهید) پردی پوخ باور درلود ، چی د اسلام صوری او تطبیقی حیثیت لپاره اسلامی اخلاق بنیادی تکی دی هغه ځان د رسول الله(ص) د دی وینا : «په ورین ټ‌ـی ستړی مشی جاریه صدقه ده» مصداق گانه ځکه خو به یې هیڅاته هم تندی نه و غوټه کړی ، او همیشه به مسیده .

پر اسلام او مسلمانانو نود هغه د زهیر تیا لپاره زیاد هغې ورځی خاطره نه هیریږی چی د کامی پر مفتوحه او لسوالی روسانو لومړی ځل پر مجاهدینو بې کرکی بمبارو کړ ، او پراولسی مستضعفا نـوبې تئر ښه یخ کړ ، خلکو په جوماتونو کی د مجاهدینو لپاره د خدای به دربارکی لا سونه اوچت کړی وو ، «خوشال» ساه نیولی او غریونیولی ماته را غاړی ووت او د مجاهدینو در د اوخوا خوږی یې په کوکو او یوځو سو و ساند و جوته کړه .

ترڅوچی تری کیدای شوه په خلاص مټ یې شپه ورځ د مجاهدینو په هر رنگ خدمت کی ځان خولی خولی کړ ، خوځه وخت چی پری د کلی اولس د یره د ستوگنې لپاره را تنگه شوه ، نود هماغه ۱۳۵۸ په پای کی یې دهجرت سترسالت ترسره کړ

د لته هم د آرام لپاره نه و راغلی ، څه چی تری کیدای شول ، او څه چی ورته د مسلمانانو په گټه ښکاریده ، غاړه یې تری و نه غړوله ، کله د اسلامی تحریک په اداری ځانگوکی بوخت او کله نظامی فعالیت کړی کله د مجاهدینو د سمبالښت چاری ، اوکله پخپله یوسمبال مجاهد.

دی ټولو ستومانیو او غورځو پر ځوزیات دوام و نکړ او نوره به پاک خدای ته د ده د دی هلوځلو ادامه منظوره نه وه ، نود ۱۳٦۱ ه د قوس دمیاشتی په دولسمه د ښیوی په گوریک کی یری داره ماری ډلی په ډیره بې رحمی او سبعیت د خپل بوځوان ترورزی اوبو سپین ږیری ساما په گډون په شهادت و رساوه.

اروادی ښاده وی

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروز امسو خان

د حسن خان زوی د غزنی ولایت د قره باغ ولسوالی د حاجی جومک د کلی اوسیدونکی یو تکړه او مخلص مبارز ؤ د اسلام د لاری له مجاهدینو سره یې ډیری منلای تړی وکړی په ۱۱-۲-۱۳٦۲ نیټه دروس دیرغلگرو قواو له خوا ونیول شو او په شهادت ورسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید فیصل سوانح

شهید ورور فیصل چې اصلي نوم یې «قتلی» دی د سید گل خان زوی د کابل ولایت د سروبي ولسوالي د خاص تهزین په لوی کلي کې په ۱۳۴۱ هـ ش کال زیږیدلی دی.

لومړنی زده کړه یې د تهزان په لومړني ښوونځي کې سرته ورسوله وروسته د کابل په عربي دارالعلوم کې شامل شو خو کله چې د ولسم ټولګي ته ورسید په افغانستان کې دهري رژیم رامنځ ته شو نو زده کړه یې پریښوده او په ۱۳۵۸ کال یې په وسله وال جهاد لاس پورې کړ په لومړي ځل کې د ننگرهار د تورې بورې محاذ ته ولاړ او په ډیرو جنگي عملیاتو کې یې گډون وکړ څه موده وروسته د سروبي د تهزین د جبهې د قوماندان په توگه وټاکل شو د هغه کال په ژمي کې چې په کابل کې واوره پرته وه نو دی د خپلو مجاهدینو سره د سرخکانو سیمې ته ولاړ او په څیرې کې یې د کابل جلال آباد په لویه لاره باندې د دهري رژیم د فوځونو د کاروانونه مخې ته سنگر ونیو او په خپلو بریدونو کې یې ډیر ملحدین له منځه یو وړل او د هغوی وسایط



یې ویجاړ کړل، د ژمي په پای کې بیرته تهزین ته ولاړ هلته یې د سروبي د ولسوالي په لیسه، د کابل د شیوه کیو په صحي روغتون، د شیوه کیو په لیسه، د بگرامیـــو د مرغداري پــه فابریکه د ببرک «روس مل» د کور په شمول په څنو کورونو باندې گوریلا یې بریدونه وکړل او ډیر کمونستان یې د خپلو شومو اعمالو په سزا ورسول. له هغه وروسته د پغمان د جبهې قوماندان مجاهد ورور عبدالحق او شهید ورور ضابط عبدالحلیم سره دپغمان سیمې ته ولاړ او هغه ځای یې دکمونستانو له موجودیت څخه پاکه کړه.

همدارنگه د اسلام د لیاري دغه پیاوړي قومندان د خپلو مجاهدینو وروڼو په کومک ډیر ځله د کابل او جلال آباد په لویه لاره باندې د تور سرک په سیمه کې د سره استعمار او د هغوی د مزدور رژیم په فوځي کاروانونو باندې بریدونه وکړه او دښمن ته یې اجازه نه ورکوله څو د ننگرهار، لغمان او کنړ د ولایتونه د مسلمانو خلکو دوژلو

او زورولو لپاره هغو ولایتونو ته
ولاړ شي د ماهیپر د بریښنا په
سټیشن یې برید وکړ او هم یې کله
کله د پلچرخي محبس ، د پنځاک
شاو خوا سیمې او د کابـل د
بـالا حصار پـه بـرخه کې د
کمونستانو هډې تر برید لاندې
نیولې.

په پای کې ئې په ۱۸-۳-۱۳۶۲
نیټه د ماهیپر او پلچرخي ترمنځ
د سپین غوړ په برخه کې د روسي
قواؤ په یوه لوی کاروان باندې
چې له جلال آباد څخه کابل ته
روان و برید وکړ او له سهار څخه
تر ماښام پورې جګړه روانه وه د
کفر د قواؤ څخه پنځــــلس
عرادې ټانکونه او ثقلیه وسیلې
ویجاړې شوې ، له اتیاؤ څخه
زیات روسان ووژل شول اوزیات
شمیر یې ټپي شول په دغه وخت
کې نومیالی ورور فیصل له دریو
نورو تکړه مجاهدینو سره یوځای
د شهادت لوړ مقام ته ورسید.
(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور دینار د حاجي
سید محمد زوی د پکتیا ولایت د
زرمت دولسوالی دمینزواوسیدونکی
ؤ نوموړی د ترهکي د ملحد رژیم
د رامنځ ته کیدونه وروسته په
وسله وال جهاد لاس پورې کړی
او د زرمت غازیکوت د جبهې

یو تکړه او فعال مجاهد په توګه
یې په ډیرو چریکي بریدونو کې
برخه اخیستې ده په وسله وال
جهاد برسیره له هیڅ ډول مالي
کومک څخه یې هم دریغ نه کاوه.
دغه ورور په ۳-۸-۱۳۶۱ نیټه
د روسي یرغلګر پوځ د یوه
کاروان له خوا د ګردیز زرمت
په لاره باندې د شهادت لوړ
مقام ته ورسید.
(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور نظر ګل
« خالد » د صاحب ګل زوی د
لغمان ولایت د نورستان د
ولسوالی اوسیدونکی یو تکړه او
سرتیری مجاهد ؤ په ۱۳۵۸ کال

د نورستان د ولسوالی د جبهې
د قوماندان په توګه وټاکل شو
په ډیرو جګړو کې یې برخه
واخیسته په پای کې په
۳-۱۱-۱۳۶۱ نیټه د علینګار
ولسوالی دهادر په پوسته باندې
د یوه برید په ترڅ کې له هغه
وروسته چې (۸) تنه ملحدین
یې ووژل په خپله د ۳۵ کالو په
عمر شهید شو.
(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور بشیر خان
د عبدالقیوم زوی د کندهار ولایت
د سپیر سرخ اوسیدونکی د اسلام
د لارې یو تکړه مجاهد ؤ چې
د افغانستان د روان اسلامي جهاد
له پیل څخه یې په وسله وال
جهاد لاس پورې کړی او په
ډیرو چریکي بریدونو کې یې ګډون
وکړ په پای کې په ۱۳۵۸ کال
د لوی اختر په شپه د دین د
دښمنانو له خوا په شهادت ورسید.
(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید عبدالرؤف د موسهی د جبهی قومندان :

شهید ورور عبدالرؤف د حاجی عبدالغفور زوی په کال ۱۳۳۰ د کابل ولایت د چهار آسیاب د ولسوالی د موسهی د چهار سو ئی په یوه متدینه او مسلمانه کورنی کی د نیاته راغلی دی کله چه په افغانستان کی په کال (۱۳۵۷) د روس غلامانو په یوه توره او کرغیړنه کو دتا لاس پوری کړ او کمونیستی حکومت منځ ته راغی مجاهد عبدالرؤف د خپل ورور حاجی عبدالغنی سره یوځای د خپلی ایمانی جذبی په اساس په ډیره مینه او اخلاص په مقدس وسله وال جهاد پیل وکړ چه په ډیرو گړیبلانی او جبهه ئی جنگونوکی ئی زیات داخلی او خارجی دښمنان د دوزخ کندی ته ولیږل دا مجاهد د ډیری تجربی او په جنگی تکنیکونوکی د مهارت په اساس د موسهی د جبهی د نظامی آمر په توگه و تاکل شو چه د موسهی د جبهی مجاهدینو د ده د قوماندی په رڼاکی زیاتی کامیابی لاس ته راوړی خو کله چه په (۱۳-۲-۱۳۶۰) نیټه د موسهی د مجاهدینو په مرکز روسانو او د دوی نوکرانو ناڅا په یرغل وکړ او د مجاهد ښود مقاومت په اثر ډیر روسان او د دوی غلامان و وژل شول په آخرکی دغه ورور عبدالرؤف له یو زیات شمیر ښځتلو مجاهدینو سره یوځای د شهادت لوړ مقام وگاټه (انا لله و انا الیه راجعون).



شهید ورور امان الله چی په پابک مشهور ؤ د عبدالله زوی د کندهار ولایت د پنجوایی د ولسوالی د زلخان د کلی اوسیدونکی ؤ نوموړی په ۱۳۵۷ کال وسله وال جهاد پیل کړ او په ډیرو چریکی بریدونوکی ئی گډون وکړ دغه سرتیری مجاهد په ۲۲-۷-۱۳۶۱ نیټه د نظرخان د باغ په برخه کی د یوه برید په ترڅ کی دهاوان د فیر په ذریعه ټپی شو خو کله چی جوړ شو بیرته یی په جهاد لاس پوری کړ په پای کی په ۲۷-۱۲-۱۳۶۱ نیټه د جمعی په ورځ کله چی د نورو همسنگرو ورونو سره د کندهار هوایی ډگر ته نیږدی د دښمن د قواؤ له خوا کلا بند شو د ډیر مقاومت کولو نه وروسته د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید حاجی عبدالغنی د موسهی د جبهی عمومی آمر

د حاجی عبدالغفورزوی چه په کال ۱۳۲۸ کی د کابل ولایت د چهار آسیاب د ولسوالی د موسهی د چهار سو کلی په یوه دینداره کورنی کی قانی د نیاته سترګی پرانستلی دی محترم حاجی صاحب د خپل عمر په اوږدوکی همیشه د حق او عدالت پلوی او د باطل او خیانت سره قاطعانه مقابله کوله په تیره خوکله چه په کال (۱۳۵۷) په افغانستان کی یو دهری او کمونیستی حکومت منځ ته راغی دازړ ور مجاهد په ډیره میړانه او صداقت د اسلامی جذبی په اساس د عملی او وسله وال جهاد په ډګرکی و درید او ډیر ژرئی د خپلی زړورتیا ، ښه دیانت او اخلاص په وجه د مجاهدینو او عامو خلکو په منځ کی زیات محبوبیت ترلاسه کړ چه په نتیجه کی د چهار آسیاب د ولسوالی د عمومی آمر په توګه و ټاکل شو هغه ؤچه د داخلی او خارجی دښمنانو په زړولویو نوی او مهلک داغ پیدا شو داځکه چه ده د کابل په ښار کی دننه خپلو ګوریلایی عملیاتوته په ډیره مد برانه توګه دوام ورکړاوهم ئی د کابل او لوګر په زیاتو جبهه ئی جنګونوکی فعاله برخه و اخیستله او کامیابی ئی ترلاسه کړه خوکله چه په کال ۱۳۶۰ د ثور د میاشتی په (۱۳) نیټه روسانو د موسهی په قرارګاه وحشیانه او بی رحمانه یرغل وکړ او څلور ورځی د دغه قهرمانو مجاهدینو له سخت مقاومت سره مخامخ شول په نتیجه کی نیږدی ۱۹۰۰ تنه روسی یرغلګر عسکر او د هغوی غلامان د خپلو فاسد و اعمالو په جزا ور سیدل خو په پای کی حاجی عبدالغنی له خپلو څلورو ورونو او (۷۰) تنه مجاهدینو سره د شهادت لوړ مقام ته ور سیدل (انا لله و انا الیه راجعون) .

شهید ورور ذوالفقار د ګلزار زوی د کابل ولایت د سروبی ولسوالی د آصف خیلو په کلی کی په کال ۱۳۳۰ھ ش کی زیږیدلی لومړنی زده کړه ئی د سروبی په

منځنی ښوونځی کی سرته و رسوله د هغه و روسته د چهار آسیاب په لیسه کی شامل شو هلته ئی تر یوولسم ټولګی پوری زده کړه

بشپړه کړه او دولسم ټولګی یې
د رحمن بابا په لیسه کې ولوست
په ۱۳۵۸ کال د وسله وال جهاد
لپاره د شهید آدم خان جبهې ته
ولاړ په ډېرو جګړو کې یې ګډون
وکړ په ۱۳۵۹ کال بیرته خپلې
ولسوالۍ ته ولاړ د هغې تقوی او
امانت داری په وجه چې یې لرله
د جبهې د مالی مسئول په توګه
و ټاکل شو ترڅو په ۲-۳-۱۳٦۰
نیټه د یوې جګړې په جریان کې
د شهادت لوړ مقام ته ورسید
انا لله و انا الیه راجعون).

شهید ورور قاری سیف الرحمن

چې اصلی نوم یې سرجه خان دی
د ګل رحمن زوی د ننګرهار ولایت
د کبیر کاریز د کلی اوسیدونکی ؤ
ده لومړی د دینی علومو په زده
کړه پیل وکړ خو د قرآن کریم
د حفظ سره یې ډېره مینه درلوده
د جلال آباد د حفظ القرآن
په مدرسه کې شامل شو او په
اوو(۷) کالو کې یې قرآن کریم حفظ
کړ کله چې دغوایې کرغیړنه کودتا
رامنځ ته شوه د وسله وال جهاد
لپاره د شهید ادم خان جبهې ته
ولاړ هلته یې په ځورا میړانه او
متانت سره جهاد وکړ ترڅو د
هغه بم د چاودنې په اثر چې
شهید ادم خان د بارودو دکیپبلو
لپاره اره کاوه شهید ادم خان
او دی دواړه شهیدان شول.
(انا لله وانا الیه راجعون)

. شهید ورور نظر الله چې
په لعلی سره مشهور ؤ د محمد سالم
زوی د ننګرهار ولایت دخوګیانو
د ولسوالی د قیلغو د کلی او
سیدونکی په ۱۳۳۷ هـ شی کال
په هغه کلی کې زیږیدلی دی ده
خپله زده کړه تر دولسم ټولګی
پورې د ملکیار هوتک په لیسه‌کې
بشپړه کړه نوموړی په افغانستان
کې د دهری رژیم رامنځ ته کیدو
نه وروسته وسله وال جهاد پیل
کړ او په ۱۳۵۹ کال یې کورنی
پاکستان ته مهاجره شوه او ده
خپل جهاد ته په ډېره میړانه سره
دوام ورکړ په ۱۷-۳-۱۳٦۲ نیټه
د ملحد دولت یوه قوه دخوګیانیو
د ولسوالی د بیا فعاله کولو په
منظور هلته راغله خو مجاهدینو یې
په میړانه سره مقابله وکړه په
پای کې په ۱۹-۳-۱۳٦۲ نیټه د
وزیرو د ژوری په کلی کې نظر الله
له دری تنو نورو مجاهدینو سره

د شهادت لوړ مقام و ګاټه
(انا لله و انا الیه راجعون).

شهید ورور زر محمد دکشمالی

کل زوی د ننګرهار ولایت د
کامی ولسوالی د ماما خیلو په‌کلی
کی په ۱۳-۵-۱۳۳٤ هـ ش کال
زیږیدلی دی لا د ځاورو کلو نه ؤ
شوی چې مور اوپلار یې وفات
شول او دی یتیم پاته شونوموړی
د ښو اخلاقو خاوند ؤ د دهری
رژیم په رامنځ ته کیدو سره یې
وسله وال جهاد پیل کړ او دسر
ګروپ په توګه به یې وظیفه
اجراء کوله په پای کې په
۱۲-۱-۱۳٦۰ نیټه د روسی پرا
شو تی قواؤ سره د جګړې په

ترڅ کې له هغه وروسته چې
یوه هلیکوپتر الوتکه یې راوغورځوله د دښمن د زهري بمونو د
استعمال له کبله د ۱۴ کسو
مجاهدینو سره د شهادت لوړ مقام
ته ورسید (انا لله و انا الیه
راجعون) .



شهید ورور غلام حسین

د قادر خان زوی په ۱۳۴۸ کال
د ننګرهار ولایت د هوایي ډګر
په سیمه کې زیږېدلی دی ده د
۱۳۵۷ کال د غوایي د کرغېړنې
فاجعې د راتلونه وروسته وسلوال
جهاد پیل کړی او د دښمن قواؤ
ته یې غاښ ماتوونکي ګذارونه
ورکړي دي ترڅو په
۱۳۶۱-۱۱-۲۹ نیټه د ګردي
کڅ په سیمه کې د دهري رژیم
د فوځونو د یوه یرغل په نتیجه کې
په شهادت ورسید.
(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور امیر محمد د
غزني ولایت د قره باغ ولسوالي
د بشیر د کلي او سیدونکی ؤ

نوموړی د اسلام د لیاري یوتکړه
او په اسلام او قرآن مین مجاهد
ؤ چې د روان اسلامي جهاد په
شروع کې یې وسله په غاړه کړه
او سنګر ته ولاړ دراکټ لاینچر
په ویشتلو کې ماهرؤ او په ډیرو
چریکي بریدونو کې یې ګډون وکړ
په پای کې په ۱۳۶۲-۲-۱۱
نیټه د ملحد رژیم د یوې لوئي
قوې د حملې په ترڅ کې د زیات
مقاومت کولونه وروسته د قره
باغ په ولسوالي کې شهید شو
(انا لله و انا الیه راجعون).

شهید ورور فتح محمد د

فیض محمد زوی د کندهار ولایت
د پنجوایي د ولسوالي د محله
جات د ګوشخاني د کلي اوسیدونکی

ؤ نوموړی په کوچینوالي کې د
ښو اخلاقو خاوند ؤ د دیني
علومو زده کړه یې ترلسم ټولګي
پورې په محمدیه مدرسه کې
بشپړه کړه له هغه وروسته ددهري
رژیم د مظالمو او غیر اسلامي
اعمالو په وجه دی مجبور شو
چې مدرسه پرېږدي په افغانستان
بالدې د روسي قواؤ مستقیم تیري
نه وروسته یې وسله وال جهاد
پیل کړ ترڅو په ۱۳۶۱-۱۲-۲۷
نیټه د جمعې په ورځ د کندهار
د هوایي ډګر په سیمه کې د روسي
قواؤ له خوا د یوې جګړې په
ترڅ کې شهید شو.
(انا لله وانا الیه راجعون)



شهید ورور محمد عثمان

د حاجي بابا خان زوی د ننګرهار
ولایت د سرخرو د ولسوالي د
امرخیلو په کلي کې په ۱۳۴۱
کال زیږېدلی دی لومړنۍ زده کړه
یې د امرخیلو په لومړني ښوونځي
کې متوسطه دوره یې د عزیز خان
د کڅ په منځني ښوونځي کې

له مسلط ظلم ، کفر ، خرافاتو او اوهامو سره د مقابلې په لار کښې ټول نه باور کیدونکي مشکلات او ربړونه گاللي ، په اور کښې لويدلي ، اره شوي ، له کورونه شړل شوي ، په مرگ او قتل تهديد شوي ، د خپل جاهلي محيط سپکې او سپورې يې زغملې او زيات يې هم په دې لارکې مرگ او شهادت ته هم حاضر شوي . . . دا ټول که چې مؤمن انسان وينې او يايې اورې پوهيږي چه د ده لار هم سخته ده ، د ده وظيفه هم مهمه ده ، بايد په هغه صورت کښې چې د رسالت د مبدأ پيرو او مطيع وی دی هم دی ټولو کړاوُنو تکليفونو ته ځان چمتو کړي ، د خپلو شخصي مصالحوته تير شي او د نورو د مصلحت په جهت کښې هرې قرباني ته حاضر شي ، دا ډول مؤمن انسان په ژوند کښې لويو او عظيمو کارونو ته اقدام او په خورا شهامت هغه تر آخره تعقيبوي .

هغه پوهيږي چه دا لار د مادي گټو او مصالحو د تامين لارنه ده ، هغه پوهيږي چه بايد دی اوس د خپلو گټو او مصلحتونو پرځاي ځان د آسمانونو خداي ته وسپاري او د پيغمبرانو د دعوت لار انتخاب کړي .

په بشري اوږده تاريخ کې د پيغمبرانو په سلسله‌ايز کاروان ايمان سړي ته د دې درس ورکوي چه په ژوند کښې هغه شيان چې په سطحي نظر انسان ته ناممکن او محال ښکاري ، ولي پر خداي باندې د ايمان او د پيغمبرانو په لار د ټينګو قدمونو د ايښيدلو د لارې کيداي شي يوه ورځ هغه تحقق پيدا کړي ، هغه سرته ورسيږي ځکه د پيغبرانو عليهم السلام ژوند چې ټول د همدغسې ظاهراً ناممکنو کارونو د بدلون او اوښتون نه ډک دی هغه د مشکلاتو او ظاهری ناممکنو چارو د مثبت تحول په برخه کې پوره قانع کوي .

که چه يو انسان د رسالت په مبدأ ايمان پيدا کوي پوهيږي لکه څنگه چې فکري ، عملي او روحي لحاظ خلك د پيغبرانو پر لار روان او د هغوی کره وره ځان ته قدوه گڼي ، همداسي بايد په روان ژوند کښې هم بايد خلك خپل تنظيمي ، سياسي او اجتماعي چارې د خداي صالحو او با تقوی عناصرو ته وسپاري ، هغوی بايد پر صالحو او متقي عناصرو را ټول ؛ شي ځکه هغوی باور لري چې د نيکمرغه ژوند جوړول او بقاء يوازې او يوازې په دې کښې ده چې خلك صالح بندگان خپل مشران وټاکي او پر هغوي را ټول شي .

د رسالت په دې اوږدې سلسلې ايمان او باور انسان په دې پوره قانع کوي چې د هغه‌د ژوند لاره يوه مطمئنه او د بشريت له عمر سره برابره لار ده ، هغه په دې باور پيدا کوي چې له پيغمبرانو نه غوره او صالح انسانان په تاريخ او ژوند کښې نه دي تير شوي او دی د همدې غوره انسانانو په لار روان دی ، او له همدی ځايه ده چې داسې انسان د هغوی پر لار او سپارښتونو په پوره اطمينان عمل کولای شي او د ښه عاقبت په برخه کښې يې ايمان لري .

د رسالت په مبدأ ايمان او باور انسان په دې ډاډمن کوي چه د ژوند په هکله د يو صحيح او مطمئن جهت موندلو يواځينې يوه لار د تاريخ په اوږدو کښې همدا د آسماني هداياتو د تبليغ عهده لرونکو انسانانو جهت او لار ده .

په دې ډول هغه په پوره اطمينان خپله لار تعقيبوي او هغه څه چې په ژوند کښې يې عملي کوي پرې باور لري چه هغه د ده او د ده د ټولنې د نيکمرغي او سعادت لپاره تر ټولو مؤثر او گټور دي ځکه همدغسې تعامل مقاومت او همدغسې معينې لارې او د هغې تلونکو د تاريخ په اوږدوکې انسان د شر ، ظلم ، جهل ، فقر ، خرافاتو او د طاغوت او

باقي په « ٥٠ » کې

او دلیسی دوره یې د ننګرهار په لیسه کې بشپړه کړه له هغه وروسته یې وسله وال جهاد پیل کړ دی د سید محمود «خیرک» له مخلصو مجاهدو ورونو څخه ؤ چې په ۲-۱-۱۳۶۰ نیټه د بلوبالی په‌سیمه کې له روسی قواؤ سره د یوی جګړی په ترڅ کې شهید شو. (انا لله و انا الیه راجعون).

شهید ورور نذیر جان د حاجی موسی خان زوی د وردګو د ولایت د چک د ولسوالی د بیک سمند د سرفراز د کلی او سیدونکی یو غیرتی او سر تیری مجاهد ؤ چی په کال ۱۳۵۹ د روژی په خوار لسمه نیټه د دښمن د قواؤ د مقابلی په ترڅ کې د خپلو د ووزاسنو غلام سخی او محمد ظاهرخان او وراره محمدیوسف خان سره یو ځای شهید شو (انا لله و انا الیه راجعون).

شهید ورور شیرو جان د الله میر زوی د غزنی ولایت د

قره باغ د روښان په کلی کی په ۱۳۰۸ هـ ش کال دنیا ته سترګی پرانیستی چی وروسته ئی د زابل ولایت ته له خپلی کورنی سره کوچ کړی دی او هلته د دمد په کلی کی او سیدل کله چی د ثور ناولی فاجعه رامنځ ته شوه پاکستان ته یی هجرت وکړ اوڅه موده وروسته بیرته‌نوموړی سیمی ته ولاړ او په وسلوال جهاد یی لاس پوری کړ ترڅو په ۲۳-٤-۱۳۶۱ نیټه د روژی په ۲۱ ورځ د زابل ولایت‌د دروازګی د تهانی خوا ته د دښمن د قواؤ له خوا د شهادت لوړ مقام ته ورسید. (انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور عزیز الرحمن دشمیلی د شهنواز زوی د ننګرهار ولایت د کوز کنړ د خیوی ولسوالی د دره نور د علاقه داری د املی د کلی او سیدونکی په ۱۳٤٥ هـ ش کال په نوموړی کلی کی زیږیدلی دی په

۱۳٤۷ کال د دره نور په لوسړنی ښوونځی کی شامل شو خو په ۱۳۵۷ کال یی زده کړه نیمګړی پریښوودله او په وسله وال جهاد یی لاس پوری کړ په اول کی د شهید مولوی عبدالمتین په جبهه کی د سلیمان په غره کی اوسیده او په ۱۳۵۹ کال د دره نور علاقه داری د بلوبالی په سیمه کی د قاضی سید احمد خان جبهی ته ولاړ په ډیرو جګړو کی یی ګډون وکړ او دښمن ته یی زیات ځانی تلفات واړول نوموړی په شهادت مین ؤ که څه هم د ۱۳۶۱ کال دروژی په میاشت کی یوځل ټپی شوخو بیا یی هم سنګر پریښنود په ۲۰-۷-۱۶٦۱ نیټه پاکستان ته مهاجر شو خو د جهاد سره د زیاتی مینی له کبله ډیر ژر بیر ته خپل وطن ته ولاړ ترڅو په ٤-۲-۱۳۶۲ نیټه د دښمن د قواؤ سره د یوی جګړی په ترڅ کی د ۲۲ کلو په عمر شهید شو (انا لله و انا الیه راجعون).

د شهید حمید الله پیژندنه

شهید ورور حمید الله د مولوی عزیزالدین زوی د کابل ولایت د سروبی په ولسوالی کی په کال ۱۳۳۶ کی زیږیدلی دی دینی علوم یې څه ناڅه له خپل پلار څخه ولوستل او په ضروری مسایلو کی یې معلومات ترلاسه کړل‌خو د څنو مشکلا توله کبله‌یې و نشوای کړای چی زده کړی‌ته دوام ورکړی مګر له دی سره سره یې د اسلامی تحریک له ورونو سره په ۱۳۵۰ کال کی ارتباط ونیو او په دغه لاره کی یې ډیری هلی ځلی وکړی کله چی په ۱۳۵۷ کال د افغانستان سیاسی قدرت د سره استعمار او کفر مزدورانو په لاس کی ونیو نودی د خپل اسلامی مسئولیت په‌اساس مجبور ؤ چی د الحاد په ضد وسله وال جهاد شروع کړی هغه ؤ چی په ۱۳۵۸ کال زمینه ورته برابره شوه او جهاد یې پیل کړ د ده د تقوی ، امانت داری او نیکی رویې له کبله ؤ چی په ۱۳۶۰ کال د خپلی جبهی د قومالدان په توګه و ټاکل شو ده په ډیرو جګړو کی ګډون درلود او په هره جګړه کی به له نورو مجاهدینو څخه مخکی روان ؤ. ترڅو په کال ۱۳۶۰ دجدی

په میاشت کی دخپلو جنګی عملیاتو په ترڅ کی د هغوسینونو څخه چی د ملحد دولت قواؤ د دوی د څنیوی لپاره فرش کړی ؤ څنی د څنثی کړل اوځنی یې په خپله د دولت په ضد استعمال کړل خود دغو عملیاتو په دریمه ورځ په داسی حال کی چی هدف ته ور روان ؤ د یوه مین د چاودنی له کبله په ۱۳۶۰-۱۰-۳ نیټه د شهادت لوړ مقام ته و رسید (انا لله و انا الیه راجعون).

شهید ورور لعل مرجان

دمحمد جان زوی په کال ۱۲۳۷ هش د پکتیا ولایت د ځاځیو د ولسوالی د ستیا په کلی کی زیږیدلی دی نوموړی د ډیر دیانت اوښو اخلاقو خاوندؤ د ۱۳۵۷ کال د ثور د کړغیړنی کودتانه وروسته یې په وسله وال جهاد لاس پوری کړ څه وخت

وروسته هجرت کولوته مجبور شو خو ډیر ژر بیرته جهاد ته ستون شو او په مختلفو جبهو کی د دهری رژیم پر ضد و جنګید برسیره په هغه ده‌به تل خلک د



مامور لعل خان شهید فرزند محمدعطا خان باشنده و لسوالی اندراب ولایت بغلان ، که بعد از مدت ها جهاد مسلحانه به اثر تکلیفی که در جهاد برایش عاید گردیده بود بدرجه‌شهادت رسید .

اناالله واناالیه راجعون .



کما الدین شهید فرزند جمالدین مسکونهٔ ولسوالی کیا مد یش که بتاریخ ۱۵ - ۱۰ - ۱۳۶۱ بدرجهٔ شهادت رسید.انالله‌وانااليه راجعون

مولوی عبد النظیا عمر ولد عبدالوهاب مسکونه کاریز کیر

ولایت ننگرهار که با آمدن روسها دست بجهاد مسلحانه زد بالاخره‌بتاریخ ۲۹/۱۱/۱۳۶۱ دریک جنگ خونین علیه روسها بدرجه شهادت نایل شد .

اناالله واناالیه‌راجعون .

عبد الزاهد ولد شهید مولوی عبد الظاهر مسکونه کاریز کیر ولایت ننگرهار که بتاریخ ۲۹/۱۱/۱۳۶۱ دریک نبرد خونین علیه روسهای اشغالگر وکارملی در منطقه گردی کچ ولایت ننگرهار بدرجه شهادت رسید . اناالله واناالیه راجعون .



ضیاءالدین ولد عبد المحمود مسکونه بامچیان درایم ولایت بدخشان‌در(۱۳۳۰)متولد گردید موصوف نظر به مشکلات اقتصادی نتوانست که تعلیمات خودرا بدرجه عالی اکمال نماید باشروع شدن جهاد مسلحانه در افغانستان دعوت به جهاد مسلحانه زد ، درا کثر جنگ ها علیه ملحدین اشتراک میورزید بالاخره ، دروقت حمله عمومی روسها به درایم بعد از مقاومت شدید بدرجه شهادت رسید .

اناالله و اناالیه راجعون

عزه الدین شهید فرزند

عبدالمحمود مسکونه پانجیان
دراسم ولایت بدخشان جوان ...
ساله ، نظر به شوق وعلاقه خاص
که بجهاد داشت بابرادرش
ضیاءالدین یکجا درمقابل روسها
به جهاد شروع نموده وبعد از
مقاومت شدید بابرادرش یکجا
بدرجه شهادت رسید .
اناالله وانا الیه راجعون .

عبدالرحیم شهید فرزند
محمد حیدر مسکونه ولسوالی
تولک ولایت غورات که در
سنگر حق علیه باطل بدرجه
رفیع شهادت نایل شد
انا لله و انا الیه راجعون

مرجان ولد بهرام مسکونه
سرخرود ولایت ننگرهار در یک
درگیری با قوای روسی بدرجه
شهادت رسید
(انا لله و انا الیه راجعون)

زرین شهید ولد سنگین مجاهد
۱۹ ساله باشنده قریه [illegible] ولسوالی
بهاغه ولایت لوگر که دراکثر
عملیات جر بکی اشتراک میورزید
موصوف بالآخره دربرج میزان سال
۱۳۶۰ در یک نبرد خونین در
ولسوالی شکردره بدرجه شهادت
نایل شد .

انا لله و انا الیه راجعون

غلام فاروق فرزند
محمد کبیر مسکونه قریه کوکی
کنر خاص که در جنگ رو یا
رو ئی علیه روسها بتاریخ
۲۶-۱۱-۱۳۶۱ بدرجه
شهادت رسیدانالله وانا الیه راجعون
[illegible] شهید فرزند سید آمیر
درسال ۱۳۳۰ دردهم [illegible] متولد

گردید ، موصوف بعد ازفراغت
صنف دوازدهم [illegible] غازی شامل
پوهنځی حقوق شد ، اوهنوز
دوره تحصیل خود را درپوهنځی به
اتمام نرسانده بود که درسال
۱۳۵۳ ه.ش از طرف دولت
داؤد بهمراه یک عده برادران
تحریکی گرفتار وبه ده سال حبس
محبوس گردید ، بعد از کودتای
ثور [illegible] برادران تحریکی
به زندان پلچرخی انتقال دادند .
بالآخره در هشت جوزای سال
۱۳۵۸ در مقتل گاه زندان
رسوای پلچرخی به شهادت رسید
اناالله وانا الیه راجعون .

رازمحمد فرزند عبدالخالق
مسکونه قریه دینار ولسوالی
قرقین ولایت جوزجان که در
یک برخورد با دشمن علیه
روسها بتاریخ ۱۰-۱۱-۶۱
بدرجه شهادت نایل شد
(انا لله و انا الیه راجعون)

جهاد لپاره دعوت کول او له
شهادت سره یی ډیره مینه درلوده
ترڅو په ۲۱-۶-۱۳۶۲ نیټه د
خوست د ېړی په تهانه باندی د
برید په وخت کی خپلی دغی آرزو
(شهادت) ته ورسید (انا لله و انا
الیه راجعون).

شهید ورور خلیل الرحمن

د ملا محمد جان زوی د ننگرهار ولایت د سرخرو د ولسولی د بالا باغ د کلی او سیدونکی دشهید آدم خان د جبهی یو تکړه مجاهد ؤ کله چی په افغانستان کی دهری رژیم را منځ ته شو خپله زده کړه یی په نهم ټولگی کی پریښووده او په اسلامی مبارزه یی پیل وکړ د ښوونځی په زده کړه بر سیره دینی علوم یی هم تر شرح عقاید پوری لوستلی ؤ هغه وخت چی په ۲-۱۰-۱۳۶۱ نیټه دروسی سره یو ځونه د سرخر رود سیمی ته ننوتل اود بی گناه مسلمانانو په عام قتل یی پیل وکړدغه مجاهد ورور په ډیره میرانه سره د هغوی د مقابلی لپاره ور ووانگل د دوه ساعته جنگ په جریان کی یی زښت زیات د دښمن عسکر ووژل خو په دی وخت کی دی هم ونیول شو او په ډیره بی رحمی سره په شهادت و رسول شو او جسد یی په تیلوکی وسوځول شول (انا لله و انا الیه راجعون).

شهید عزیز الله د امین الله زوی د سروبی ولسوالی د تهزین خاص دتری کلی او سیدونکی په ۱۳۳۷ هش کال یی فانی نړی ته سترگی پرانستی او د کمونستانو قدرت ته رسیدو سره سم یی په وسله وال جهاد لاس پوری کړ ده در شادت له مخی دیو گروپ مجاهدینو

قوماندہ په غاره در لوده ، بالاخره و روسته له ډیرو جگړو چه له دښمن سره یی وکړی او ډیر کمونستان یی د دوزخ کندی ته ولیږل د ۱۳۶۱ کال دلیندی د میاشتی په نهمه نیټه د دښمن له خوا د یو اینبودل شوی مین په واسطه د شهادت لوړ مقام ته و رسیده.

(انا لله و انا الیه راجعون)



شهید ورور محمد حسن

«همدرد» د ملک گل روز زوی د لغمان ولایت دقرغیو دولسوالی د دره غر په کلی کی په ۱۳۴۰ کال وزیږید په ۱۳۴۷ کال د عزیز خان کڅ په ښځنی ښوونځی کی شامل شو او په ۱۳۵۳ کال د قرغیو په لیسه کی شامل شو څه وخت وروسته ئی هغه پریښوو ده او د کابل د رحمن بابا لیسی ته تبدیل شو خو په ۱۳۵۹ کال یی زده کړه په لیما یی کی پریښوو ده او د لغمان د قرغیو دا میږ په جبهه کی یی وسله وال جهاد پیل کړ نوموړی یو فدا کار مجاهدؤ او د گروپ د قوماندان په توگه یی کار کاوه په پیای کی په ۲-۸-۱۳۶۱ نیټه د لغمان د مندره وړ په سیمه کی د ملحد دولت د یوه پوځی کاروان سره د نښتی په ترڅ کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)



اتل او قهرمان شهید نور محمد خیرخواه :

شهید ورور نورمحمد«خیرخواه» د حاجی خیر محمد زوی دکندهار ولایت د ار غنداب ولسوالی د سنځری د کلی او سیدونکی په کال ۱۳۳۸ هـ ش کی دی فانی نړی ته سترګی پرانستلی . لومړنی زده کړه یی د پیر محمد کاکړ په ښوونځی کی تر سره کړه و روسته د کابل په حربی ښوونځی کی شامل شو په دغه وخت کی ئې برسیره په زده کړه د اسلامی دعوت په برخه کی پوره لاس درلود نوموړی خپله دغه وظیفه د چنګاښ د کودتانه ورسته په ډیرو سختو شرایطوکی اجراء کړه خود۱۳۵۷ کال د غوایی د فاجعی په رامنځ ته کیدو سره یی د ماموریت وظیفه چی ضابطی وه پریښو ده دوسله وال جهاد لپاره شرایط ورته برابر شول توجیبوی ته ولاړ خو په دغه دوره کی د دهری رژیم له خوا ښخه د وه ځله ونیول شو اول ځل د کندهار په محبس کی او دوهم ځل د کابل ولایت د امنیتی قوماندانی په توقیف کی بندی شو او ډیر تکلیفو نه یی و ګالل خو کله چی له بند ښخه خلاص شو بیا جبهی ته ولاړ اوښه وخت و روسته د محمدیه جبهی د قوماندان په توګه و ټکل شوهلته یی ډیر تکړه اوسر تیری مجاهدین و روزل او د دښمن قو اوته یی زیات تلفات و اړول په پای کی دغه ورور په ۵-۹-۱۳۶۱ نیټه روسی یرغلګرو قواؤ له خوا د سنګسار په سیمه کی په ډیره ناځوانمردانه توګه شهید کړ شو.
(انا لله و انا الیه راجعون).

. شهید ورور غلام سخی د شهید نذیر جان زوی د وردګو د ولایت د چک د ولسوالی د بیکسمند د سرفراز د کلی او سیدونکی د اسلام د لاری یو زړور او نومیالی مجاهد ؤ نوموړی په هغه سیمه کی د روان اسلامی جهاد له پیل ښخه جهاد ته ملا و تړله او په پوره دیانت داری امانت داری ټینګ ایمان سره یی د بیک سمند و دموزی د عمومی قوماندان په توګه خپله مقدسه وظیفه اجراء کړه او د اسلام اوخاوری د دښمنانوسره په سره سینه او پاخه عزم سره و جنګیده ترڅو د ۱۳۵۹ هش کال د روژی د مبارکی میاشتی په څوار لسمه نیټه د خپل پلار ، یوه ورور او د تره له زوی سره یو ځای د دښمن په مقابل کی د یوی جګړی په ترڅ کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید (انا لله و انا الیه راجعون).

شهید ورور غلام نبي د باچا ګل زوی د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ د ګدائي په کلي کې په ۲-۲-۱۳٤۲ نیټه زیږیدلی دی، د روسي قواو سره د نیوی جګړې په ترڅ کې ټپي شو او په ٤-٢-۱۳٦۰ نیټه یې د دې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې (انا لله و انا الیه راجعون).

شهید ورور حاجي اقبال حسین د احمد ګل زوی د پکتیا ولایت د خاځیو د آریوب ولسوالۍ د مطخیلو او سیدولکي د نوموړی په افغانستان کې د ملحد رژیم د راتلو نه کیدونه وروسته د هغه په خلاف یې مبارزه لاس پورې کړه او خلک یې جهاد ته دعوت کول په ۱۳۵۸ کال یې عملاً وسله وال جهاد پیل کړ په ۱۳۵۹ کال یې پاکستان ته هجرت وکړ څه وخت وروسته دی په خپله د اقتصادي مشکلا تو له کبله سعودي عربستان ته ولاړ او کورنۍ یې دمهاجرینو په یوه کمپ کې پریښوده په سعودي عربستان کې یې د مجاهدینو د نمایندګانو سره ډیره مالي مرسته کوله د ۱۳٦۱ کال په اخیر کې بیرته راغی او د جهاد لپاره یې ملا و تړله خو په لاره کې د مقبلو د اګا خیلو په کلي کې د شیې د تیرولو په مقصد د خوب په وخت کې د ملحدینو له خوا ډیرې ګولۍ ورته وشوې او شهید شو (انا لله و انا الیه راجعون).

پیام شهید

از صلاح الدین شاهین

صبا بیا بنشین در کنار بستر من
که تیر دشمن نادان نشسته در بر من
به سنگ دره و کوه سر بسای و زود ببر
پیام خون شفق رنگ دل به مادر من
بگو که شاد نشین دیده تر مکن زغمم
که خیر از این نبود آرزوی بهتر من
برای حفظ وطن از شرار آتش روس
به سنگرم بفرست آن دګر برادر من
سرم فدا که به شمشیر میزدم دلیر
به خون گرم شنا میکنم کنون سر من
هنوز در هوس خواب خوش به باغ بهشت
دمید لاله حمرا به پای سنگر من
شهید راه خدا زنده همیشه بود
خدا(ج) بگفت به محمد(ص) خطاب رهبر من
به عشق صبح شهادت چو غنچه خنده زنم
که سر فگنده شده دشمن ستمگر من
درین معامله مسرور و سرخوشم «شاهین»
اگر رضای خدا(ج) میشود میسر من

بسم الله الرحمن الرحيم

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال : بعثنا رسول الله صلی الله علیه وسلم

فی بعث فقال ان وجدتم فلانا وفلانا "رجلین من

قریش" فاحرقوهما بالنار، فلما اردنا الخروج قال

کنت امرتکم ان تحرقوا فلانا وفلانا، وان النار لا یعذب

بها الا الله تعالی فان وجدتموهما فاقتلوهما.

"بخاری، ابو داؤد، ترمذی"

ترجمه:

از حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت است میفرماید که: پیامبر صلی الله علیه وسلم

ما را با لشکری فرستادند وفرمود: اگر فلان وفلان "دو نفر از قریش" بدست تان افتادند

به آتش کشید شان! هنگامیکه حرکت کردیم مجدداً ما را فراخواندند وفرمود: من

درمورد به آتش کشیدن فلان وفلان هدایت داده بودم، اما عذاب آتش را جز خداوند

کسی داده نمیتواند. اگر با ایشان برخورد دید قتل شان کنید.

پته: د افغانستان د مجاهدینو
اسلامی اتحاد فرهنگی کمیټه
د نشراتو آمریت
شهید پیغام مجلی مدیریت
پست بکس ۳۸۰
پاکستان پیښور

قیمت یک شماره (۳۰) افغانی
وجه اشتراک در خارج:
شش ماهه: (۱۲) دالر
سالانه: (۲۴) دالر

فدا محمد «فائض»

درام سه پرده یی استعمار سرخ

امپریا لیزم جهانخوار آنچنان که سیاست را رسیدن بهدف از هر طریقی که باشد تعریف میکنند، راستی برای نیل به امیال غیر انسانی شان با در نظر داشت شرایط و اوضاع زمان اقدام ور زیده برای مکیدن خون ملل مستضعف دست بکار میشود. کمونیزم که رخی از لکه استعمار و استکبار جهانی است، نیز با تعقیب این خط اساسی پالیسی و جهانبینی الحادی شان بمنظور استعمار ملل مظلوم سعی میورزند تا بدین طریق از منابع سرشار معدنی و حاصلات زمینهای زرخیز شان. استفاده برند، از مستضعفین بهره کشی نماید و خود بر کرسی با داری و آقایی جهان تکیه زده زندگی پر عیش و نشاط بسر برند. کمونیزم در راه رسیدن. بهدف سه مرحله را پشت سر میدارد که با شرح مختصر آن میپردازیم:

۱ – استعمار فرهنگی:

استکبار جهانی به تاریخ جهان همواره توجه مبذول داشته انرا از تجار بی که تاریخ بدست شان گذاشته استفاده ها برده اند. آنها میدانند تاز مانیکه یک چرخش فکری در جامعه‌یی بمیان نیاید و اذهان شان تخدیر نشود هر گز نمیتوان بزور سر نیزه علیه آنها حکومت کرد. روس پیشتر از همه همقطار انش متوجه این امر شده و گامهای سریعی در این راه برداشته است و گاهی هم اگر از راه دیگری این کار ممکن نشده است بزور سر نیزه فرهنگ پوچ وبی محتوای شانرا بر مردم تحمیل کرده اند چنانچه لینن در زمینهٔ تسخیر ممالک آسیای میانه گوید.

''باید تسلط شوروی را تا کشور های آسیای میانه گسترش داد و این کار، هیچ راهی جز نفوذ کمونیزم در این مناطق با اعمال قدرت و بکار بردن وسایل سرکوبی و خشونت، بیش از آنچه تزار ها میکردند ندارد''.

طوری که دیده شد، روس بازرنگی این پلان را در کشور هایی که امروز به دو را و میچرخند عملی کرد. گوئید تا مکروب مهلک کمونیزم را در کشوری که خیال تسخیر آنرا در سر میپرورانید تزریق کرد و بدین ترتیب خواست تا ملت ها را ذهنا رهین خود ساخته هستی شانرا به یغما برد.

در کشور رزخیز ما که امروز باعفریت کمونیزم دست و گریبان است، نیز شست و اند سال بمنظور ترویج فرهنگ منحط کمونیزم و مخدوش ساختن اذهان مردم فعالیت های سری و علنی صورت گرفت و درین راه پول هنگفتی خرچ نمودند تا سرانجام

توانست به یاری دست پروردگانش بر حریم ناموس دین و وطن ما تجاوز نماید.

روسها در راه پخش فرهنگ انسان کش شان از وسایل گوناگون کار میگیرند پخش نوتهای سری، کتب، رسالات و سخنرانیها، مناظره ها، باز خوانی مقالات و آثار ادبی، استخدام و انتصاب محرکین بی دینی این همه از جمله وسایلی است که روس بمنظور بر آورده شدن هدفش بکار میبندد.

مثالی از نحوهٔ تبلیغ:

در آغاز بحث اشاره نمودیم که کمونستها از تجارب تاریخی استفاده زیادی میبرند، با در نظر داشت این اصل همواره میکوشند نهضت های اسلامی جهان نو، را سرکوب کرده و تحریک را بنفع انگلیس تبلیغ کنند چون تهداب تحریک اسلامی در مصر بدست استاد شهید حسن البناء ریخته شد و مصر خود سالها زیر بار طاقت فرسای استعمار انگلیس بسر برد و استعمار نه تنها بمصر بلکه به اکثر نقاط جهان دست در از کرد حال آنکه عامل عمدهٔ پی ریزی تحریک اسلامی مصر استعمار انگلیس بر خاک مصر بود و بانی این تحریک خود از جانب انگلیسها و غلامان حلقه بگوش شان هدف گلوله قرار گرفت و تا امروز عدهٔ کثیری از پیشتا زان این تحریک به شهادت رسیدند.

در کشور ما نیز روسها ازین حربه کار گرفتند کوشیدند علمای دین، روحانیون و جوانان روشنفکر ما را که از بینش اسلامی برخوردار بودند بمردم چنان معرفی دارند که گویا ایشان سرسخت ترین دشمنان ملت اند، تا بدین ترتیب ملت در برابر آنها ظن سوء داشته از آنها فاصله بگیرند.

یکی از جنبه های تبلیغ استعمار سرخ این است که همواره دم از پشتیبانی طبقه پائین جامعه میزنند، از عدالت اجتماعی نام می برند، از کارگر و زارع به دفاع بر میخیزند و مانند «مانی» نقاش منظره های مزورانه پی ترسیم مینمایند و مردم را به آن فریب میدهند تا که مردم میدانند جامعه و نظامی که روسها به آن دعوت میدهند جهنمی بیش نیست فرصت از دست رفته خواهد بود.

روسها زمانی که در یک جامعهٔ مذهبی دست بفعالیت میزنند در مراحل ابتدایی برای اغوای مردم دم از احترام به مذهب نیز میزنند چنانچه مؤسساتی بنام شؤون اسلامی دارند در حالیکه کمونیزم یکسره مخالف مذهب و درست در قطب مخالف آن قرار دارد. لینن بصراحت اظهار کرد: "کمونیزم هرگز خدارا قبول ندارد و دشمن سر سخت ادیان است. مارکسیزم تمام معابد و مراکز دین را اعم از اینکه به کدام دینی وابسته باشد، یک سلسله مؤسسات ارتجاعی میداند که رهبران دینی برای تخدیر و بهره کشی از کارگران و کشاورزان از آنها استفاده میکنند".

همچنان ستالین میگوید: "ما ضد دین هستیم برای حزب کمونیست امکان ندارد که در برابر ادیان بی طرف باشد بلکه باید به مبارزهٔ خود برضد ادیان تا آخر ادامه داد".

و مادهٔ (۱۲۱) قانون مجازات عمومی روس که در سال ۱۹۲۲ بتصویب رسید بصراحت میگوید: "هرکس علناً یا بطور خصوصی فرزندان خود را درس دینی بدهد، محکوم به اعمال شاقهٔ اجباری خواهد بود".

و هر گاه روسها مطمئن شدند که ملتی را زیر بار یوغ استعمار شان آوردند باز دشمنی خود را با مذهب علناً اعلام میدارند. روسها در سال ۱۹۲۴ بعد از آنکه استقلال کریمه را بکلی از بین بردند تفاخر کنان در یکی از روزنامه ها نوشتند: "ارتش سرخ هرگونه مقاومتی راکه مسلمانان در برابر کمونیزم و دولت سرخ تشکیل دهند از هم میشکند".